د لوړو زده کړو وزارت

ننګرهار پوهنتون

ښوونې او روزنې پوهنځی

جغرافیې څانګه

# د افغانستان سرحدونه

لیکونکی : پوهنیار کریم الله

کال : ۱۳۸۹المریز

بسم الله الرحمن الرحيم

## د لارښود استاد تقریظ

د محترم پوهنیار کریم الله د ننګرهار پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځي د جغرافیې څانګې علمي کادرغړي دغه علمي اثر چې (**د افغانستان سرحدونو ته کتنه** ) تر سر لیک لاندې یې زما د لار ښوونې سره سم لیکلی دی. په پوره غوره سره مې وکوت او خپل نظر په لاندې توګه څرګندوم:

دغه علمي اثر چې د پېل پر خبرو ، د مطالبو په فهرست او سریزې سربېره د افغانستان موقعیت ،د سرحدي کرښو پېژندل ، اهمیت ، ډولونه او ټاکل یې ، افغانستان د سرحدي کرښو تاریخ ، د افغانستان او سني سرحدونه ، لنډیز ، وړاندیزونه او ماخذونه او د یو شمېر نقشو درلودونکی دی چې ټول په (    ) مخونو کې لیکل شوی دی.

پورتنی موضوع د افغانستان د تاریخ په اوږدو او همدرانګه د افغانستان په معاصر تاریخ کې ډېره پېچلې او حساسه موضوع ده ، څېړونکي د اثر په پای کې ډېره علمي او ګټوره نتیجه ګیري کړې ده ، د هیواد په ناوړه او سختو شرایطو کې چې علمي کتابونه او اسناد ډېر لږ او په نښت حساب دي ښاغلی کریم الله توانیدلی دی چې خپله علمي رساله تکمیل کړي او نوموړی په دې بریالی شوی چې د افغانستان سیاسي پولې د تاریخ په اوږدو او په بېلا بېلو دورو کې په مکمل او واضح ډول وڅېړي. دغه رساله چې په پښتو ، ساده او روانه ژبه لیکل شوې د لیکوالی ټول اصول او معیارونه یې له پېل څخه تر پایه په ډېره سمه توګه مراعات کړي ،په دې رساله کې راټول شوي مطالب او معلومات دده د پرله پسې زیار او مطالعې پایله ده او ددې اثر په لیکلو کې یې له بېلا بېلو معتبرو او نوو ماخذونو څخه ګټه اخیستې ده.په اخرکې زه د نوموړي دغه اثر په علمي اثارو کې د یو بل اثر زیاتوالی بولم.

په درنښت

پوهنوال لطف الله (صافی)

# د پېل خبرې

افغانسـتان چـې دیـو سیاسـي واحـد پـه توګـه تـر (۵۰۰۰) کلونـو زیـات تـاریخ لـري او د منځنۍ اسیا هیوادونو په لیکه کې لرغونی هېواد دی چې له پخوا څخه یې تر اوسه پورې خپل سیاسي هویت په ساتلی. دا چې دغه لرغونی هیواد (۵۰۰۰) کلن تاریخ لري په دغه اوږده موده کې په بېلا بېلو نومونو هم یاد شوی لکه اریانا، خراسان او افغانستان، نو طبعي ده چې په یاده هره دوره کې دې هېواد پراخ او تنګ سرحدونه لرلي وي. له بلې خوا د استعماري قوتونو پلیت سیاستونه هم د دې لامل ګرځیدلي چې د افغانسـتان سرحدونه د تاریخ په اوږدو کې هر وخت لانجمن کړي، نو دا چې د افغانسـتان سرحدونه په یاده اوږده تاریخي موده کې د ناندرو او کشمکشونو ډک تاریخ لري نو له همدې امله اړینه ده چې د دې هېواد هر لوستی او سېدونکی او په تېره بیا ځوان کهول باید د افغانستان په سرحدونو وپوهېږي.

دا کتاب چې د افغانستان سرحدونه تر سرلیک لاندې د همدې موخې د ترسره کیدو له پاره لیکل شوی. هیله ده چې دغه لیکنه د هیوادوالو له پاره یو کوچنی خدمت وګڼل شي.

د دغه اثر د لیکلو او بشـپړولو لپـاره بـېلا بېلـو کتـابتونونو رسمي او غیـر رسمي ادارو ته ورغلی یم او تر زیاته بریده مې کوښښ کړی دی چې کره او باوري معلومات راټول کړم.

دغه علمي اثر مې د محترم استاد پوهنوال لطف الله (صافي) د کابل پوهنتون د ځمکپوهنې پوهنځي د جغرافیې څانګې استاد تر لارښوونې لاندې بشـپړ کړی. نو زه په خپل وار سره له محترم استاد څخه د زړه له کومي مننه کووم او له لوې خدای (ج) څخه ورته د نېکې بدلې، اوږد او خوشاله ژوند او د ځوانو کادرونو په روزلو کې د لا زیات صبر او حوصلې غوښتونکی یم.

په درنښت

پوهنیار کریم الله

سریزه:

افغانستان چې د یو سیاسي واحد په توګه اوږد تاریخي لرغونتوب لري چې په ځېنو تاریخونو کې یې تاریخي لرغونتوب تر پنځو زرو کلونو پورې ښودل شوی دا چې له یوې خوا د ا هیواد اوږد تاریخ لري او یو لرغونی هیواد دی او له بلې خوا دغه هیواد د اسیا په زړه کې ستراتیژیک موقعیت لري او د همدې ستراتیژیک موقعیت په لرلو سره دا هیواد تر ډیر وخت پورې د شمال او جنوب او ختیځ او لویدیځ پر مخ د تلو راتلو لاره وه چې ځینې وخت دغه تېریدنې د سوداګرۍ او نورو موخو د تر سره کولو لپاره تر سره کیدې او ځینې وخت بیا د هند ګرمو اوبو ته د رسیدو او یادې ته ورته موخو لپاره تر سره کېدلې نو د همدې له امله دې هیواد تل د نورو استعماري قوتونو او بیا په تېره د ګاونډیو پام ځانته را اړولی دی او ګاونډیو هم په ډېرې سپین سترګۍ سره تل دا هیواد او اوسیدونکي یې ارام کولو او خوشاله اوسېدلو ته نه دي پرېښودلې او تل یې ورته سردردي پیدا کړې.

دا چې افغانستان یو لرغونې هیواد دی پدې لرغونې دوره کې یې ډېرې تودې او سړې لیدلي چې کله هم ددغې لرغونې هیواد سرحدونه ډېر پراخ او غزیدلي دي او کله بیا د همدې هیواد سرحدونه د نورو د تهدید لاندې راغلي دي او د هیواد د سرحدونو لمن یې راکمه کړې ده.

دغه اثر چې (د افغانستان سرحدونو ته کتنه ) تر سرلیک لاندې لیکل شوې پکې د سرحدونو پیژندل یا تعریف ، د سرحدونو ټاکل چې سرحدونه باید کومې پروسې تېرې کړي تر څو د قانوني سرحدنو په توګه ومنل شي.
د سرحدونو ډولونه چې هیوادونه او بیا په تېره افغانستان کوم ډول سرحدونه لري او د سرحدونو په ارزښت بحث شوی.

همدارنګه په دغه اثر کې د افغانستان د موقعیت په اړوند بحث شوی دی ځکه چې افغانستان د اسیا په زړه کې یو غوره ستراتیژیک ځای لري او پدې سربیره افغانستان د طول البلد او عرض البلد درجو له مخې داسې موقعیت لري چې دې هیواد ته یې ځانګړی اقلیم وربخښلی دی او د ستراتیژیک موقعیت په لرلو سره یې دا ثابته کړې ده چې په بېلا بېلو تاریخي دورو کې یې د متجاوزینو او یرغلګرو قواوې په شا تمبولي او د سر او مال زیانونه یې ور اړولي دي.

په همدې ترتیب پدغه اثر کې د افغانستان د سرحدي کرښو په تاریخ یو ځغلنده نظر اچول شوی دی. د افغانستان مساحت د تاریخ په اوږدو کې بېلا بېله بڼه درلوده ، د بېلگې په توگه کله چې دا هیواد داریانا په نوم یادیده ، د اریانا سرحدونه د آمو سیند ، سیر سیند ، د هند سمندر او لوت دښتې تر منځ ټاکل شوي وو.

د یونان و باختري په دوره کې ددې خاورې سرحدونه تر سند او گنگا او د لویدیځ په لور د ایران تر دښتو او د شمال خوا تر سیحون ( سیر سیند ) او جیحون ( امو سیند ) پورې غزیدلی وو.

په افغانستان کې د اسلام د مبارک دین خپریدو وروسته یوه یو شمېر یا یو لړ پاچاهانو لکه د طاهریانو ، خوارزمشاهیانو ، تیموریانو ، صفویانو ، بابریانو ، هوتکیانو ، ابدالیانو او محمد زیانو سلطنت کړی دی چې د قلمرو ساحو یې توپیر درلودو. کله به د افغانستان ساحه پراخه وه او کله به پکې محلي حکومتونو واکمني کوله.

په پای کې د افغانستان اوسني سرحدونه تر بحث لاندې نیول شوي کله چې احمد شاه بابا واک ته ورسید د افغانستان د واکمنۍ ساحه یې پراخه کړه او پیاوړی هیواد یې جوړ کړ. د هیواد سرحدونه یې ډېر وغزول چې د نړۍ په سیاسي نقشه کې یې دا هیواد د افغانستان په نوم ونومولو. د احمد شاه بابا په وخت کې د افغانستان سرحدونه په شمال کې تر اکسوس ( امو سیند ) او په سهیل کې د عربو تر سمندرگي او عمان خلیج او په لویدیځ کې تر کرمان او په ختیځ کې د هند تر سرحدونو او د تبت د غرونو لړیو پورې ورسیدل.

خو متاسفانه د شاه محمود په وخت کې له یوې خوا د ورونو تر منځ بې اتفاقي او له بلې خوا د بارکزیو او سدوزیو تر منځ سیالۍ او اخ و ډب ددې لامل شوې چې د افغانستان ډېرې سیمې د گاونډیانو لخوا ونیول شي او په پایله کې یو کوچنی او په وچه کې را گیر افغانستان پاتې شي.

# د افغانستان موقعیت

افغانستان د اسیا په لویه وچه کې هغه هیواد دی چې بحرته لار نه لري او د غوره طبعي ځانګړتیاوو په لرلو سره په مرکزي اسیا کې یو غرنی هیواد ګڼل کېږي.
افغانستان په نیمه شمالي کره کې تخمیناً د **۶۵۲۲۲۵** کیلومتر مربع پراخوالي په لرلو سره له روسیې پرته نور د ټولو اروپایي هیوادونو څخه پراخ هیواد دی او د اسیایي ملکونو سره د پرتله کیدو له مخې له چین ، هند ، سعودي عربستان ، ایران ، منګولیا ، اندونیزیا ، پاکستان ترکیې او برما څخه وروسته په لسمه درجه کې راځي او د پراخوالي له مخې د نړۍ څلویښتم هیواد دی (۱۴- مخ ۱۲۰ )
نوموړی هیواد د جغرافیایي طول او عرض له مخې په شمالي عرض البلدونو کې له جنوب څخه د شمال په لوري د **۲۹** درجو ، **۲۲** دقیقو او **۵۳** ثانیو او د **۳۸** درجو ، **۲۹** دقیقو او **۳۷** ثانیو او د شرقي طول البلد دایرو ، **۶۰** درجو **۲۸** دقیقو او **۴۱** ثانیو او د **۷۴** درجو ، **۵۱** دقیقو او **۴۷** ثانیو په منځ کې موقعیت لري.
د افغانستان زیات اوږدوالی له شمال ختیځ څخه جنوب لویدیځ لورې ته یانې له یولي درې څخه تر ملک سیاه غر پورې **۱۵۳۰** کیلو متره او زیات پلنوالی یې له خم اب څخه تر چګایي غرونو پورې **۹۱۲** کیلومتره دی چې دغه مطلب په (۱نقشه ) کې ښودل کېږي.
اوس مهال چې افغانستان په وچه کې راګیر هیواد دی دغې هیواد ته تر ټولو نژدې بحري بندر د کراچۍ بندر دی چې له تورخم څخه **۱۱۲۳** کیلو متره واټن لري. پداسې حال کې چې د هند بحر او افغانستان تر منځ په سیده توګه (نېغ په نېغه ) واټن تردې ډیرکم دی یانې له هلمند ولایت څخه تر د کراچۍ شمال غرب لوري پورې **۳۹۰** کیلو متره واټن شتون لري.
د افغانستان په شمال کې تاجکستان ، ازبکستان او ترکمنستان جمهوریتونه ، لویدیځ ته یې ایران او ختیځ لوري ته یې د چین سنکیانګ ولایت سره ګډه پوله لري (۱۰- مخونه۱-۲ )
دغه موضوع (۱-نقشه ) کې په روښانه توګه ښودل کیږي.

## د افغانستان مطلقه موقعیت: Absolute Location of Afghanistan

د یوه هیواد مطلقه موقعیت د جغرافیایي کواردینیتونو د شمېرنې پر بنسټ محاسبه او په پام کې نیول کېږي چې نوموړی هیواد د طول البلد او عرض البلد په کومو درجو کې واقع دی ؟ د استوا د کرښې شمال او یا سهیل ته په کومه اندازه واقع شوی او یا دا چې د نصف النهار د کرښو له مبداء یعنی ګرینویچ د ختیځ یا لویدیځ خواته په څو درجو کې موقعیت لري.

مطلقه موقعیت په بنیاد د یوه هیواد اصلي سیمه په شمال ، سهیل ،لویدیځه او یا ختیځه نیمه کره کې په سمه توګه ښودل کیږي اودهمدې موقعیت په بنسټ د اقلیم په اړه معلومات هم لاس ته راځي او بیا وروسته پوهېږو چې نوموړی هیواد په کوم ډول اقلیمي سیمه کې ځای لري.

د مطلقه موقعیت له مخې افغانستان په لاندې طول البلدونو او عرض البلدونو کې ځای لري.

افغانستان په شمالي نیمه کره کې د عرض البلد کرښو په **۲۹** درجو ، **۲۲** دقیقو او **۵۳** ثانیو او د **۳۸** درجو ، **۲۹** دقیقو او **۳۷** ثانیو او په ختیځه نیمه کره کې د ختیځو طول البلد کرښو په **۶۰** درجو ،**۲۸** دقیقو او **۴۱** ثانیو او د **۷۴** درجو ،**۵۱** دقیقو او **۴۷** ثانیو په منځ کې پروت دی. (۲ – مخونه ۷-۸ )
دغه موضوع په (۲ نقشه ) کې ښودل شوی ده.

## د افغانستان نسبي یا جغرافیایي موقعیت:

نسبي موقعیت دیوه هیواد پرتله ایزه برتري، لوړوالی، سیاسي او اقتصادي ارزښتونه د بل هیواد په پرتله څرګندوي.د بیلګې په توګه د نړیوال استعمار په وخت کې د هند د سمندرګرمو اوبو ته دپخواني شوروي اتحاد نسبي موقعیت اولاس رسی دامریکا د متحده ایالاتو او انګلیستان په پرتله لړو.نوځکه د شوروي اتحاد دغې نسبي موقعیت نوموړی هیواد د ګوانښ سره مخامخ کړی ؤ هماغه وچې ویي غوښتل ترڅو د مرکزي اسیا د هیوادونو او افغانستان له لارې د هند د سمندرګرمو اوبو ته ځان ورسوي خو په پای کې پخپله د سیاسي ټوټې کېدنې سره مخ شو.همدارنګه په ۱۹ز پیړۍ کې انګلستان او برتانوي هند غوښتل چې د تزاري روسې د قدرت په مقابل کې د اسیا په جنوب او د خلیج په هیوادونو کې نورې ډیرې برلاسۍ لاس ته راوړي نوځکه یې په افغانستان کې د پراختیا غوښتنې سیاست Forward Policy عملي کړ چې په پای کې دتزاري روسې سره تر خبرواترو وروسته افغانستان د حایل په توګه ومنل شو .او په نسبي توګه یې خپل پرمختګ او پراختیا غوښتنه تثبیت کړه. هماغه وچې روسانو دمروې او پنجدې په اخیستنه او انګلیستان او برتانوي هند دډیورند دکرښې پرتحمیلو لوخپله نسبي استعماري سیمه تثبیت کړه.(۲_ مخ ۸ )

## د افغانستان ستراتیژیک موقعیت:

افغانستان له پخوا څخه ډیر غوره ستراتیژیک موقعیت لري ځکه چې دهندوکش عظمت لرونکي اودفاعي غرونو ،پاروپامیزاد ،سپین غر،دسلیمان غرونه اوپه ذکرشوو غرونوکې دفاعي درې لکه د اندراب دره،دغوربند ، بامیانو ،وریښمو تنګی_ سالنګ اودکونړ درې او همدارنګه سیندونه او لګدې یې چې له یوې خوا هیواد سمسوروي اوله بله پلوه دیرغلګرو په وړاندې طبعي کلک سنګرونه اومرچلې دي.چې په بېلا بېلو مرحلوکې ورڅخه دهمدې موخې لپاره کاراخیستل شوی دی ، د بیلګې په توګه دهمدې سیمې ستراتیژیک ارزښت و چې لوې سکندر د نړۍ نیونې په موخه په هرات ،کندهار،کابل ، پروان او کنړ کې له داسې ستونزوسره مخ شو چې په هرځای اوسېمه کې یې د نابېرو حملو له کبله دومره تلفات

ورکړل چې د کارد سستوالي څخه يې مور په يونان کې نوره تنګه او په قهرشوه اوسکندرته يې خط وليکه چې ستاد بخت ستوری په غورځيدو دی او که د بلې لانجی سره لاس او ګريوان يې؟

په همدې ترتيب سره لدې چې چنګيز د افغانستان ډيرې برخې کنډواله کړې ،خو په باميانو او پروان کې د افغانستان د وګړو له امله دعبرت درس له ځانه سره ګور ته يوړ.

انګليسانو هم له افغانانو سره په دريو جګړو کې ددې سيمې ستراتيژيک اهميت وليدو ، لکه چې د افغان انګليس په دوهمه جګړه کې د انګريزانو دولس زره عسکرو څخه يو اځې ډاکټر برايډن وکړای شو چې د خيبر قرارګاه ته ځان ورسوي.

پخواني شوروي اتحاد هم غوښتل چې د افغانستان د نيولو په ترڅ کې د جنګ خوند وڅکي ،خو ددې هېواد ستراتېژيک موقعيت هغوي ته د اسې ماتې ورکړه چې د تل لپاره يې اشتراکي نظام د نړۍ په نقشه کې ورک کړ. (۲_ مخونه ۹_۱۱)

لاندې (۳_نقشه) د افغانستان ستراتيژيک موقعيت او دنګ غرونه راښايي.

# سرحدي کرښې

**د سرحد تعریف:**

سیاسي سرحدونه له یوې متشکله سیمې څخه د بلې سیاسي متشکله سیمې د بیلتون یا جدا والي غوره ننښې دي. چې دا ننښې شونې ده طبعي او یا مصنوعي وي.

سیاسي کرښې هغه تاکل شوې کرښې دي چې د ځمکې پرمخ د سیاسي سیمو د محدودولو په موخه کارول کېږي. البته که د سیاسي سیمې څخه موخه یو ملک وي په دغه صورت کې دا سرحدونه د نړیوالو سرحدونو په نوم یادیږي، که چېرته د سیاسي سیمې څخه موخه یو ولایت یا ولسوالي وي چې د یو هیواد په داخل کې سیاسي پولې رامنځته کوي نو دې ډول سرحدونو ته ملي سرحدونه وايي (۱مخ۸۲)

او یا په بله ژبه د یو هیواد سرحدونه هغه تاکل شوې کرښې دي چې د یو هیواد سیمه د بل هیواد له سیمې څخه بېلوي.

د یو هیواد سرحدونه یا خو طبعي او یا مصنوعي وي. طبعي سرحدونه هغه سرحدونو ته ویل کېږي چې یوه سیمه له بلې سیمې څخه د طبعي پدیدو په مرسته لکه غرونو، سیندونو، روانو اوبو، دښتو، جهیلونو او داسې نورو په وسیله جلا کوي. مصنوعي سرحدونه د هندسي کرښو او یا کواردینتونو او یا داسې نورو ننښو په څیر دوګړو په وسیله لکه پوستو، تیږو، دیوالونو، سرکونو، پایو (سیمنتي پایو) پېلرونو په مرسته تاکل کېږي (۹_مخونه ۷۷_۷۸)

**د سرحدونو ارزښت:**

سرحدونه معمولاً ډېر ارزښت لري چې مونږ یې ارزښت له دوو اړخونو څخه څېړو چې یو یې له منطقي اړخه او بل یې په تخنیکي اړخه.

الف: له منطقي اړخه: که چېرته مونږ فکر وکړو سرحدونه له هغو کرښو څخه عبارت دي چې د هغو په وسیله د یو هیواد د قلمرو سیمې ځانګړې کېږي. نو د یو هیواد قلمرو ډېر ضروردی چې باید ځانګړی شوی وي، ځکه چې قلمرو د هېوادله متشکله عناصرو څخه یو مهم عنصر دی او د قلمرو په نه موجودیت کې دولت منځته راتلی نه شي، پس دا چې سرحد دومره ضروري موضوع څرګندوي نو منطقي ده چې د سرحد ارزښت و منو.

ب: له تخنیکي یا حقوقي اړخه: له تخنیکي یا حقوقي اړخه هم د سرحدونو په ارزښت ډېر ښه پوهیدی شو ، په حقوقي لحاظ سرحدونه له دوو اړخونو څخه با ارزښته ګڼل شوي. یو د ملي حقوقو له اړخه او بل د نړیوالو حقوقو له اړخه.

د ملي حقوقو له اړخه سرحدونه ډېر مهم او ضروري دي ځکه چې د یو دولت ډېرې ضروري موضوعګانې د سرحدونو په دننه کې سرته رسیږي د بېلګې په توګه د مالیاتو د اخیستلو لپاره د سرحدونو موجودیت ته اړتیا ده ، همدارنګه د نفوس شمېرنې پر مهال هم سرحدونه ضروري دي تر څو د خپل دولت وګړي پرې معلوم شي او په نفوس شمېرنه کې وګڼل شي ، په همدې ترتیب د داخلي او بیروني وګړو د تفکیک لپاره هم سرحدونه ضروري دي.

د نړیوالو حقوقو له اړخه هم د سرحدونو د ارزښت څخه سترګې نشو پټولی د بېلګې په توګه د بیروني تصرفاتو او تېري د مخنیوي لپاره اړینه ده ترڅو د یو دولت سرحدونه څرګند وي ، په همدې ترتیب د بیروني وګړو د داخلیدو د مخنیوي او همدرانګه د وارداتو او صادراتو اندازې د ټاکلو لپاره د سرحدونو موجودیت ضروري دی.

همدارنګه په تجارتي موضوعګانو کې د محصولاتو د اخیستلو له اړخه هم د سرحدونو موجودیت ضرور بریښي ، که چېرته سرحدونه دقیق ټاکل شوي نه وي نو پر سرحدونو باندې د اختلافاتو د پیدا کیدو شونتیا زیاته وي ، همدارنګه پر سرحدنو باندې اختلافات هغه مهال هم را پیدا کیږي چې سرحد د تغیر او بدلون په حال کې وي.د بېلکې په توګه که چېرته یو سیند د سرحد په توګه ټاکل شوی وي هغه مهال چې سیند خپل اصلي مسیر پریږدي نو پدغه وخت کې په سرحدنو باندې ناندرې راپیدا کېږي ، خو که چېرته دا موضوع په نړیوالو تړونونو کې مخکې له مخکې روښانه شوې وي نو پدغه حالت کې د دوو دولتونو تر منځ پر سرحدنو ناندرې او ګواښونه نه پیدا کېږي ، نو له دې څخه څرګندیږي چې د سرحدونو معلومول او سم ټاکل د یو هیواد لپاره ډېر اړین بریښي.

## د سرحدونو ټاکل:

تاریخي شواهد دا ښايي چې د سرحد مفهوم په پخواو ختونوکې د نن ورځې د سرحدونو سره په پرتله ایزه توګه توپیرلري. لکه چې پخوا به معمولاً سرحدونه دیوې کرښې په بڼه نه وو. اوددو وامپراتوریو ترمنځ به د بیلتون وسیله یوه پراخه سیمه ټاکل کېده اود دغـه ډول سـرحدونو ټاکلو بـه ځـانګړې مـوخې درلـودې د بیلګـې پـه توګـه چینایانو اورومیانو سـرحدونه ددې لپـاره ټـاکلي وو چـې خپـل مـدنیت دوحشـت اوبربریـت څخـه خونـدي وسـاتي .چـې پـه دې بـاره کـې د رومیـانو د رایـن اودانیـوب سیندونو اود چینایانود چین د دیوال څخه یادونه کولی شو.

په منځنیو پیړیو کې هم د سرحدونو څه عجیبه غوندې حال و په دغه دوره کې د یوهیواد تړلي سرحدي کرښې د بل هیواد سره د بدلون اوتحول په حال کې وې .ځکه چې امپراتورانو به خپلې د امپراتورۍ سیمې اودهغې اوسیدونکي خپل ملکیت ګڼل .نوکله به یې چې خوښه شوه د خپلې امپراتورۍ سیمه به یې د زامنو ترمنځ ویشله اویا به یې پرنورو وګړوباندې پلورلـه اوپـه دې توګـه بـه هر وخت نوي سرحدونه رامنځتـه کېدل. سربېره پردې د پیاوړې مرکزي حکومت پـه نـه موجودیت سره بـه د هیوادونو ځمکې پـه ځـانګړو ټوټـواو خـورو ورو شـکلونو لیـدل کېـدې. ولـې پـه دې وروسـتیو پېړیو کې هېوادونو یو واحد شکل غوره کولو اومرکزي قوي حکومت رامنځته کېدو چې ورسره سرحدونو هم ورو ورو د کرښو بڼه غوره کړه .(۱ـ مخ ۸۲)

پـه هـر حـال د هغـه وخـت راپـدیخوا چـې هېوادونـه اوحکومتونـه د ملتونـو د غوښتنو پر بنسټ جوړ شول نو سرحدونو د نـن ورځـې د سـرحدي کرښـو مفهـوم غـوره کړ. او په تدریجي توګـه سرحدي سیمې پـه سرحدي کرښـو بـدلې شـوې. ځکـه چې پـه وروسـتیو وختونو کـې د ورځـې پـه تېریـدو سره د نفوسـو زیـاتوالی اوددوی اړتیـاوې ځمکو اوله ځمکې څخه پلاس راونې ددې لامل شوې تر څو چې هیوادونـه د سـرحدي کرښو په ښښه کولو کې له ډیرې ځیرکتیا اوجدیت څخه کار واخلي.

اوس مهال د سرحدي کرښو ټاکل معمولاً د بېلا بېلو پړاوونو د تیرولو وروسته تر سره کېږي .چې دا پړاوونه به په لاندې څو کرښو کې ذکر کړو.

لومړی پړاو: د سرحدي کرښو تاکل Allocataion:

پدې پړاو کې د دواړو هیوادونو د باندینو چارو وزیران او یا د دواړو هیوادونو استازي د مناسبو خبرو او پروتوکولونو د سرته رسولو وروسته په هر هیواد پورې تړلې سیمې ځانګړې کوي او ټاکي یې، سره لدې چې کېدای شي دواړه خواوې او یا یو لوری یې په خپله خوښه ونه مني د بېلګې په توګه د اسرایلو او دهغه د ګاونډیو عربي هیوادونو ترمنځ خبرې اترې چې په ناخوښۍ سره پای ته ورسیدې او یا هم د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ دډیورند سرحدي کرښه یا ( Durand Line ) چې پر افغانستان په ناخوښۍ تحمیل شوې او هېڅ وخت هم د افغانستان وګړو ته د منلو او قبلولو وړ نه ده.

دویم پړاو : د سرحدي کرښو محدودول(Delimitation )

پدې پړاو کې سرحدي کرښه له هغو سیمو او یا فزیکي پدیدو څخه چې دغه کرښه ورڅخه تیریږي ورته ډیره پاملرنه راړول کېږي. ددې پړاو بشپړیدل معمولاً د دواړو هیوادونو د رسمی استازو په وسیله او د سیمې د بشپړې څیړنې او نقشو څخه په ګټې اخیستلو سره سر ته رسیږي.

دریم پړاو: د سرحدي کرښو په نښه کول(Demarcation ) :

پدې پړاوکې د دواړو هیوادونو استازي سرحدي کرښه د ځمکې پرمخ چې په پروتوکول کې یاده شوې وي په نښه کوي. دا پړاو د سرحدونو په ټاکلو کې یو پیچلی پړاو دی. چې د ځمکې د جوړښت په نظر کې نیولو سره کېدی شي ډیره اویا لږه موده په برکې ونیسي.

پټه دې نه وي چې سرحدي نښې (پیلر) په ګڼ نفوسه سیمو کې دواټن له مخې یو له بلې څخه د نیم میل واټن (0,5 mile ) څخه په کم او په کم نفوسه سیمو کې (3mile ) څخه په زیات واټن کې درول کېږي. ددې پړاو پایلې په ډیره ځیرکتیا په نقشو کې ځای په ځای کېږي او د حکومتونو په واک کې ورکول کیږي.

ځلورم پړاو: قانوني تاييد ( Ratification ) يا وروستی تصويب:

پدې پړاو کې په نښه شوې او نقشه شوې سرحدي کرښه د پارلمان د وکيلانو اود دواړو غاړو هيوادونو د سرانو لخوا تائيديږي تر څو چې قانوني بڼه ونيسي.
دا پړاو هم کيدای شي لږه اويا ډيره موده په برکې ونيسي د بېلګې په توګه د انګليستان او د امريکا متحده ايالاتو تر منځ سرحدي ستونزه چې په ۱۷۸۳ز کال کې د نه حليدو په وجه تر ۱۸۴۳ز پورې وغزيده.
په هر حال تر څو چې په يو سرحد ځلورم پړاونه وي عملي شوی په حقيقيت کې ذکر شوی سرحد په قانوني بڼه نه دی ټاکل شوی. پدې توګه کېدی شي ووايو چې سرحدونه هيڅکله هم طبعي او هميشني نه دي. ددوو هيوادونودوګړو له خوا ټاکل کيږي او هر وخت چې وغواړي بدلون ورته ورکولی شي. د بېلګې په توګه هغه تړون چې په همدې اړوند د المان( German ) او شوروي اتحاد (USSR) تر منځ په ۱۹۳۹ز کې لاسليک شوی و د قانوني والي سره سره دواړو هيوادونو دا سرحد هميشنی نه ګڼلو او يا دامور(Amore) سيند چې د چين( China ) او شوروي اتحاد (USSR) تر منځ د سرحد په توګه ټاکل شوی او قانوني پړاو يې هم تير کړی ولی بيا هم چين ته د منلو وړنه دی.هغه مهال چې د سرحدونو په ټاکلو کې دري لومړني پړاوونه سرته رسيدلي وي دغه ډول سرحدونو ته د ډيفکتو (Defacto) سرحدونه وايی.
مګر د ديجور (Dejure) يا قانوني بڼه هغه وخت نيسي چې ځلورم پړاو يعنې وروستنی تصويب شوی پړاو (Ratification) يې هم تېر کړی وي ، همدارنګه د اوربند موقتي کرښې د ديفکتو په بڼه وي د بېلګې په توګه د شمالي او جنوبي کوريا ګانو (Koreas) د عرض البلد ۳۸ درجې چې دواړه کورياګانې يو له بل څخه بېلوي ، دا کرښې سره ددې چې وروستنی او قانوني پړاو (Ratification) يې نه دی تېر کړی ولې بيا هم د دواړو هيوادونو تر منځ د سرحد په توګه منل شوی. په همدې ترتيب د شمالي عرض البلدونو ۲۱ درجې د مصر او سوډان تر منځ ګډ سرحد جوړوي چې البته ټول قانوني پړاو ونه يې هم تېر کړي چې دې ډول سرحد ته ديجور (Dejure ) سرحد ويل کېږي. مګر دغه سرحدي کرښه په ختيځو برخو کې د مالدارانو او کوچي

قبیلو په موجودیت سره په دواړو هیوادونو کې د اصلي تګلارې څخه انحراف کوي چې معمولاً د دې ځای او سیدونکو کوچې قبیلو ته هیڅ د منلو وړ نه دی چې دې ډول شکل ته یې دیفکتو (Defacto) ویل کیږي. پس ویلی شو چې نن ورځ په نړۍ کې زیاتره سرحدونه د دیفکتو Defacto په بڼه دي. لکه چې پوهیږو د دوو هیوادونو تر منځ سرحدونه زیاتره د یوې کرښې په بڼه ښودل کیږي مګر بیا هم ځینې نور سرحدونه لکه چې د عربستان Saudi Arabia او عراق Iraq تر منځ لیدل کیږي او یا په پخوا وختونو کې د عربستان او کویت په منځ کې موجود وو او په منځ کې یې ناپیلې سیمه چې په حقیقت کې دواړه هیوادونه یې د ویش برخه کې هو کړې ته نه دي رسیدلي رامنځته شوي.

پدغه سیمه کې د پترولو سرچینو د کشفیدو وروسته د واړو هیوادونو پریکړه وکړه تر څو هر هیواد ۵۰ په سلو کې ددې سیمې د پترولو پلاس راوړنې خپلې کړي دواړو یا دو شوو هیوادونو په پای کې د (۱۹۲۹ او ۱۹۷۱ز) کلونو په اوږدو کې دا سیمه په دوه برخو وویشله چې شمالي برخه یې په کویت او سهیلي برخې یې په عربستان پورې تړاو وموند.

په ځینو سیمو کې د دیفکتو سرحدونو د تثبیت لپاره سرحدي کرښې د دوو موازي کرښو په وسیله ښایي ددې کرښو په منځ کې معمولاً نا پیلې سیمې موجودې وي چې دیو هیواد تر اغیزې لاندې هم نه وي.

همدرانګه د ۳۸ عرض البلد درجې یعنې د دواړو کوریاګانو تر منځ سرحد د ۱۷ عرض البلد درجې یعنې د دواړو ویتنامونو Vietnams تر منځ سرحد د دواړو ویتنامونو د پیوستون څخه وړاندې ، د ختیځ او لویدیځ برلین تر منځ سرحد او همدارنګه د بیت المقدس د ښار د دواړو برخو تر منځ سرحد (د ۱۹۲۷ز کال د جنګ څخه وړاندې) ددې ډول سرحدونو د بېلګو څخه دي چې البته ددې ډول سرحدونو ټول ډولونه د نظامي موخو له مخې او له جنګ څخه د مخنیوي لپاره رامنځته شوي. (۱- مخونه۹۱-۹۴)

## د سرحدونو ډولونه

کولی شو چې سرحدونه له څو اړخونو له مخې ویش کړو. یو دا چې سرحد څنګه منځته راغلی او د نژادي او فرهنګي ګروپونو په ویش باندې یې د تطبیق د

درجې څرنګوالی ښکاره دی او بله دا چې د فزیکي پدیدو سره د سرحد ورته والی او یا نه ورته والی ښکاره دی. نو د همدې امله د وچې سرحدونه د ویش له مخې په لاندې توګه بیلوو.

مصنوعی سرحدونه:

الف: هغه سرحدي کرښې چې په یوه سیمه کې د بشري ټولنو له میشت کیدو څخه وړاندې کښل شوې وي دا ډول سرحدونه د سرحدونو غوره بېلګې ګڼل کېږي ځکه کله چې ورو ورو او په تدریجي توګه انساني ټولنې ددې ډول سرحدونو په څنډو او لمنو کې میشت کېږي نو ځانونه د سرحد د څرنګوالي او قوانینو سره برابروي چې له همدې امله دا ډول سرحدونه هیڅ ډول ستونزې نه راولاړوي غوره بېلګه یې د الاسکا (Alaska) او کاناډا ( Canada) تر منځ سرحد دی ، ځکه کله چې په ۱۸۲۵-۱۸۲۷ز کلونو کې د روسانو او انګریزانو تر منځ ددې کرښې د ویستلو پریکړه کیده هیچا په دغو سیمو کې ژوند نه کولو ، دا ډول سرحدونه د انتي سیدنت (Anticedent) سرحدونو په نوم یادیږي. بله بېلګه یې د امریکا د متحده ایالاتو (U.S.A) او کاناډا (Canada) تر منځ سرحد دی چې په ۱۷۸۲-۱۸۴۲ز کې ټاکل شوی. (۱-مخ ۸۸)

ب: هغه سرحدونه چې له وګړو څخه په ګڼو سیمو کې غزیدلي وي خو د سیمو کلتوري ارزښتونو ته پکې درناوې شوی وي چې دا ډول سرحدونه د سبسي کونت (Subsequent) په نوم یادیږي ددې ډول سرحدونو غوره بېلګې د زیاتره اروپایي هیوادنو تر منځ لیدل کېږي او بله بېلګه یې د هند او پاکستان له ازادۍ او ویش (۱۹۴۷ز) څخه وروسته د دواړو هیوادونو تر منځ سرحد دی.

ج: هغه سرحدونه چې دیوې سیمې د اوسیدونکو کلتوري ارزښتونو ته د درناوي پرته یوازې د نړیوال سیاست په پایله کې کښل شوي وي چې ددې ډول کرښو په غزولو سره هغه وګړي چې د یوې ژبې، یو کلتور او یو نژاد څخه وي او کلونه کلونه یې یو له بل سره د یو کلتور په درلودلو سره لکه د ورونو په څیر ژوند کړی وي په بېلا بېلو هیوادونو پورې تړل کېږي چې د افریقایي هیوادونو تر منځ زیاتره سرحدونه او د افغانستان په ختیځ او سهیل ختیځ کې د دیورند Durand سرحدي کرښه یې غوره بېلګې دي.

په بله ژبه زیاتره هغه سرحدونه چې له لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته په بېلا بېلو لویو وچو کې د استعماري هیوادونو په وسیله منځته راغلي ددې ډول سرحدونو څخه ګڼل کېږي. همدا وجه وه چې په زیاترو ازادو افریقاي هیوادونو کې سرحدي کشمکشونه له غوره سیاسي مسایلو څخه دي چې د توګو ، ګانا ، بنین ، نائجریا او کامرون هیوادنو سرحدونه ددې ځای د اوسیدونکو ژبې او نژاد ته په نه پاملرنې سره ټاکل شوي دي او همدا لامل دی چې د ګاونډیو تر منځ یې همیشني مخالفتونه موجود دي. ددې ډول سرحدونو نورې بېلګې د حبشې شمال ختیځ سیمې او د جیبوتي د جمهوریت تر منځ سرحد دی چې د سومالې د وګړو په ویش تمام شوی . همدارنګه د کینیا او تانزانیا تر منځ سرحد چې د ماسائي (Masai) د وګړو ویش پکې رامنځته شوی. په همدې ترتیب د زایر او کانګو هیوادونو تر منځ د کانګو د وګړو ویشل ددې ډول سرحدونو بېلګې دي. په همدې ډول د نائیجریا په شمال ددموریتانیا په جنوب ، په کلمبیا ، د مکسیکو په شمال ، د برما شمال ختیځ او شمال لویدیځ ، د عراق شمال ختیځ او یو شمېر نورو ختیځو اروپایي هیوادونو کې ددې ډول سرحدونو بېلګې لیدل کېږي. دا ډول سرحدونه د تحمیلي سرحدونو Superimposed په نوم یادېږي.

طبیعي سرحدونه:

هغه سرحدونه چې له فزیکي پدیدو څخه په ګټې اخستنې سره ټاکل کېږي او د طبعي سرحدونو په نوم یادېږي. ددې ډول سرحدونو څخه ګټې اخستنې له ډېر پخوا څخه د هیوادونو په منځ کې رواج درلود. ددې ډول سرحدي کرښو د ټاکلو اصلي لامل دادی چې د سرحدونو په نښه کولو او د تثبیت پړاوونه یې په اسانۍ سره بشپړېږي ، همدارنګه ددې ډول سرحدونو دفاعي ارزښت هر وخت او بیا په ځانګړي ډول په پخوا وختونو کې زیات و.لیکن باید څرګنده شي چې دې ډول سرحدونو ته د طبعي سرحدونو اصطلاح ورکول ناسمه ده چې ګویا دا ډول سرحدونه په طبعي بڼه رامنځته شوي او د بدلون وړنه دي. ددې ډول سرحدونو اصلي رول داوي چې ددوه هیوادونو د قلمرو سیمې یو له بل څخه بېلوي او عادتاً ددې ډول سرحدونو د وګړو تر منځ اړیکې او پیوستون کم لیدل کېږي. پدې ډول سرحدونو کې د وګړو د تېریدو

راتریدو لپاره یو یا څو ځانګړي معبرونه یا د تیریدو ځایونه ټاکل کیږي چې همدا معبرونه په اسانۍ سره دفاعي ورتیا هم لري. او په همدې ترتیب ددې ډول سرحدونو څارنه او کنترول د لږو لګښتونو په ګاللو سره کیږي دا ډول سرحدونه غوره او د وام لرونکي سرحدونه ګڼل کیږي ځکه چې سربیره پر دفاعي او نظامي ارزښت یې د نقشې پرمخ ددې ډول سرحدونو ټاکل او تثبیت اسانتیاوې لري. پردې ټولو غوره والو سربیره کیدای شي دا ډول سرحدونه ځینې ستونزې هم ولري د بېلګې په توګه شونې ده چې د غرونو په درو کې ځینې وګړي استوګن وي هغه وخت چې دا ډول سرحدونه ددې فرهنګي او ټولنیزو مرکزونو څخه تېرېږي کیدی شي چې ستونزې راولاړې کړي چې همدغو غرنیو وګړو ته د منلو وړ نه وي د بېلګې په توګه له چین (China) او هند (India) تر منځ د تبت (Tibit) د سیمې او د همالیا د لړیو منځنۍ سرحدي کرښه (مکمهان) چې په ۱۹۱۴ز کې تثبیت شوې وه لیکن هیڅ وخت په سیمه کې په نښه نه شوه (۱- مخونه ۸۹-۹۰)

په همدې ترتیب د الاسکا (Alaska) د ایالت او کاناډا (Canada) او همداسې د چیلي (Chile) او ارجنټاین (Argentina) تر منځ سرحدونه چې د اندیز د لړیو په غرنۍ سیمه کې دي، د دواړو هیوادونو د ۱۸۸۱ز کال تړون پر بنسټ د سرحدي کرښو ټاکلو لپاره د جهیلونو کانالونو او سیندونو څخه ګټې واخیستل شوې او ددې جهیلونو ، کانالونو او سیندونو د ګټې اخیستلو غوره والی یې د غرونو په پرتله له دوه اړخونو څخه وښودلو . یو دا چې ددې پدیدو پلن والی دغرونو په پرتله کم وي او د نقشې پر مخ ښه ټاکل کیږي او بله دا چې د ځمکې په مخ یې په نښه کول اسانه بریښي ، ددې ډول سرحدي کرښو په ټاکنه کې د سیند د بستر ژور ترینه سیمه (Thalweg) او یا د سیند منځنۍ برخه (Median) د سرحد په بڼه ټاکل کیږي (۱-مخونه ۹۰-۹۱)

له ۱۹۲۰ز څخه راورسته دا پریکړه وشوه چې د سیندونو منځنی بستر د سرحد په توګه باید وټاکل شي. خو پټه دې نه وي چې پدې وروستیو کې د تکنالوژۍ پرمختګ او ورڅخه د سیندونو له اوبو څخه په ګټې اخیستنې لکه د اوبه خور سیستم ، د برق پلاس راوړلو ، کشتۍ چلولو او داسې نورو موخو کې یې د سیندونو ارزښت او ورڅخه یې د ګټې اخیستو پروسې ګړندۍ کړې او د سرحدي کرښو په توګه د سیندونو ټاکلو زیاتې ستونزې او باریکۍ راپیدا کړې. له بلې خوا دا

چې د سيندونو د اوبو اندازه او تګلارې د بدلون په حال کې وي او ثابتې نه وي نو نشي کولی چې د يو ثابت سرحد په توګه رول ولوبوي. په زياترو سيندونو کې د اوبو بهيدل داسې وي چې له يو لوري په ساحلي ځمکو ورشيله کېږي او بلې خوا ته خپل بستر پربږدي چې دغه ډول کړنې په جغرافيه کې د اکريشن (Accretion) په اصطلاح يادېږي. د افغانستان په شمال کې د آمو سيند يې غوره بېلګه ده، همدارنګه ځينې وخت سيندونه په وچو غاړو کې خپلې تګلارې ته پوره بدلون ورکوي نو که چېرته دغسې سيندونه د دوو ملکونو تر منځ سرحد وټاکل شي نو زياتې ستونزې به وزيږوي. د سيندونو دا ډول ناڅاپي بدلون اويژن(Avulsion) بلل کېږي چې د هلمند Helmand سيند يې د افغانستان Afghanistan او ايران Iran تر منځ ددې ډول سرحد غوره بېلګه راښايي (١- مخونه٩١-٩٢)

همدارنګه هغه پنځه ګوني جهيلونه چې د امريکا متحده ايالاتو (U.S.A) او کاناډا (Cananda) تر منځ سرحد جوړوي.دا جهيلونه ددواړو هيوادونو په منځ کې په دوه برابرو برخو ويشل شوي دي، په همدې ترتيب په افريقا کې د کاريب (Karib) او همدارنګه د ويکتوريا جهيلونه(Victoria lake) د پورته سرحدي کرښو په بڼه ټاکل شوي دي.

برعکس ځينې نور جهيلونه لکه تي تي کاکا او چاد کې د طول البلد او عرض البلد کرښې او يا هغه کرښې چې د قطب نما په مرسته رسم شوې وي د سرحدونو په بڼه ټاکل کېږي چې په دې ډول ټاکنو کې ددې جهيلونو څخه هيوادونه په نا برابره توګه ګټه اخلي. (١-مخونه٩١-٩٢)

ځنګلونه او جبه زارې هم هغه طبعي پديدې دي چې له پخوا څخه انساني ټولنو د بېلتون لامل ګرځېدلي او له همدې امله عادتاً د سرحدونو په ډول منل شوي. چې د بېلګې په توګه يې په افريقا کې د صحرای اعظم (لوې دښتې) څخه يادونه کولی شو.

همدارنګه د اروپا د شمال ختيځ ځنګلونه چې له شوروي اتحاد (USSR) څخه د فنلنډ (Finland) او لتواني(Lithuania) له جمهوريت څخه د پولنډ (Poland) د بېلتون لامل ګرځيدلي.

اګر چې د جبه زارو پراخوالی ډېر زيات نه وي ولې بيا هم دا ډول فزيکي پديدې هم د سرحدونو په توګه تر ګټې لاندې نيول شوي. د بېلګې په توګه د بلجيم

(Beljium) او هالینډ (Netherland) تر منځ د میوز (Meuase) او راین د سیندونو لاندینۍ وادي چې یوه جبه زاره ده د دواړو هیوادونو تر منځ په سرحد منل شوې.

همدارنګه د دوو نړیوالو جګړو په منځ دوره کې د پولینډ (Poland) سره د شوروي (USSR) د سرحدونو په ټاکلو کې د جبه زارو څخه ګټې اخیستل شوی. ددې ډول سرحدونو ټاکل زیاتره وخت اوبیا په ځانګړې توګه هغه مهال چې د همدې جبه زارو څخه اقتصادي په لاس راوړنې شونتیا پیدا کړي ، نو دغه وخت د هیوادونو تر منځ د لانجو او ستونزو د پیدا کیدو لامل ګرځي. د بېلګې په توګه د هند او پاکستان په سرحدونو کې د ( Ran of Catch ) سیمه چې په ۱۹۶۵ز کې د دواړو هیوادونو تر منځ د سیاسي ناندریو زیږنده شوه، تر څو چې په ۱۹۶۸ز کې دا ناندریزه مسئله حل وفصل شوه.

پته دې پاتې نه وي چې په زیاترو هغو ملکونو کې چې د سرحدي کرښو په ټاکلو کې له طبعي پدیدو څخه د ګټې اخیستنې شونتیا نه وي نو د طول البلد او عرض البلد له کرښو څخه د سرحدونو د ټاکلو په موخه کار اخلي ، له دې ډول سرحدونو څخه لومړی ځل په (۱۷۹۵ز) کې د فلوریدا (Florida) په سیمه کې د اسپانې (Spain) او د امریکا متحده ایالاتو (USA) تر منځ ګټه واخیستل شوه چې دې ډول سرحدونو ته هندسي سرحدونه وایي.

اګر چې دا ډول سرحدونه د ځمکې او نقشې پرمخ په اسانۍ سره د ټاکلو وړتیا لري مګر دا چې عادتاً د هغې سیمې د اوسیدونکو اقتصادي ، تولنیزې او فزیکي وضعې ته پکې د درنښت پرته ټاکل کېږي نو زیاتره مهال د ناندرو د پیدا ایښت خطر پکې وي. ددې ډول سرحدونو غوره بېلګه د شمالي عرض البلد ۴۹ درجې کرښه ده چې د کاناډا (Canada) او د امریکا متحده ایالاتو (USA) تر منځ په ۱۸۱۸ز کې د سرحدي کرښې په توګه ومنل شوه. همدارنګه د هندسي سرحدونو نورې بېلګې د امریکا دمتحده ایالاتو په دننه ، استرالیا ، افریقایي هیوادونو، منځني ختیځ او دې ته ورته په نورو سیمو کې لیدل کېږي (۱- مخونه ۹۲-۹۴ )

سمندري سرحدونه:

د ګوتو په شمېر له څو هیوادونو څخه پرته چې په وچه کې راګېر دي د نړۍ زیاتره هیوادونه د سمندرونو او سمندرګیو سره د ګاونډیتوب له امله په بېلا بېلو واټنو سره د سمندري سرحدونو لرونکي دي. یا په بله ژبه د دغې هیوادونو یوه زیاته اندازه پراخه سیمه په سمندرونو کې هم وي ، په سمندرونو د برلاسۍ او حاکمیت څرنګوالی د وچو په پرتله توپیر لري ، ځکه چې په سمندرونو کې انساني ټولنې د تل لپاره نه اوسیږي. ولې همدا د سمندرونو څنډې دي چې سربېره له هغو کانونو څخه چې د سمندر په بستر او یا ساحلي برخو کې دي نورې اقتصادي سرچینې لکه له سمندر څخه د کبانو تر لاسه کول هم په زیاته پیمانه په همدې سیمو کې لیدل کېږي.

په ۱۲ز پیړۍ کې اسپانې (Spain) او پرتګال (Partugal) د نړۍ د سمندرونو په زیاتو برخو تر هغه چې شونې بر ښېیده د برلاسي او حاکمیت دعوه کوله ، دهیوادونو د سمندري سرحدونو ټاکل د فکر او خیال پر خلاف ساده او اسان کار نه دی. ځکه هر هیواد کولی شي چې د خپلو ساحلي اوبو پر پراخه اندازه باندې د برلاسي او حاکمیت دعوه وکړي. سره ددې چې د تاریخ په اوږدو کې پدې کوښښ شوی دی تر څو د دغسې ساحلي سیمو د پراختیا په اړوند قوانین وضع کړي چې په دې اړوند په ۱۷۰۲ز کال یو تن هالنډي عالم وان باینکر شویک (Van Bynker Shoek) دارنګه نظر وړاندې کړ چې (( سمندرونه د ټولو وګړو دي او ساحلي هیوادونه کولی شي چې په ساحلي اوبو کې د توپ د مرمۍ د لګیدو په اندازه د حاکمیت دعوه وکړي )). دا چې دې واټن د توپ مرمۍ پورې تړاو درلود او د مرمۍ لګیدل او دا واټن ثابت نه وو نو وروسته یو منځنی حد واټن د درې میله (3Miles) په اندازه د هیوادونو د سمندري سرحد په توګه وټاکل شو چې دا سیمه د بحري قلمرو (Territorial Water) په نوم یادیږي.

هغه سرحد چې په سمندرنو کې د بحري قلمرو په نوم یادیدو ټولو هیوادونو کې د منلو وړ ونه ګرځید. او دا د سمندري سرحد واټن په بېلا بېلو هیوادونو کې توپیر درلود چې دا د توپیر اندازه له درې میله (3Mile) څخه تر دوه سوه میله (200 Mile) پورې رسیده د بېلګې په توګه داد سمندري قلمرو سیمه په انګلیستان ، استرالیا ، د امریکا په متحده ایالاتو او په ځینو نورو هیوادونو کې تر درې میله (3Mile) ښودل شوې وه ، په همدې ترتیب په البانیا او یوګوسلاویا کې لس میله (10 Mile) په الجزایر ، مصر ، چین او شوروي کې دولس میله ( 12 Mile) ، په

سریلانکا کې شپږ میله (6 Mile) ، په کامرون کې اتلس میله (18 Mile) ، په ترکیه کې شپاړس میله (16 Mile) ، په ناروې کې څلور میله (4 Mile) او بالاخره په ارجنټاین ، پیرو او پانامه کې تر دوه سوه میله (200Mile) پورې رسیده.

د سمندري قلمرو له غوره موخو څخه د ناروا سوداګرۍ څخه مخنیوی کول دي چې له ډېر پخوا څخه ډېرو هیوادونو لپاره سوداګریزه او اقتصادي ستونزه وه. چې په همدې اړه د برتانیې پارلمان دې واټن ته په لومړیو کې د سمندر په دننه کې تر شپږ میله (6 Mile) پورې پراخوالی ورکړې و. چې البته وروسته دا پراخوالی تر ۹،۱۲ میله او آن چې تر ۳۰۰ میله وغزیدو ، په ۱۷۳۹ز کې د برتانیوي حکومت له غړو څخه یوتن د سمندرونو په سواحلو کې د څارونکو کشتیو ګرځیدل د ټولو ساحلي هیوادونو مسلم حق وګڼلو ، چې په ۱۸۷۲م کې یو ځل بیا یاده شوې سیمه تر ۹ میله پورې راکمه شوه او په ۱۷۹۰م کې د امریکا متحده ایالاتو په خپل هیواد کې دا واټن ۱۲ میله وټاکلو. همدارنګه اسپانیې په ۱۸۷۴ز او ۱۸۷۵ز کلونو کې دا واټن ۶ میله ومنلو. (۱- مخونه ۹۴-۹۵)

په هر حال د دریم هغه پرله پسې کنفرانس په ناستو کې چې په ۱۹۷۴ز کې په نیویارک او کاراکاس کې وشوې او بیا په ۱۹۷۴ز کې په جینوا او په ۱۹۷۵ز کې کلونو کې په نیویارک کې په نوبتي ډول تر سره شول چې په پایله کې یې یوه قانوني مسوده برابره شوه چې په هغې کې د هیوادونو د سمندري قلمرو سیمه د پېل له نقطې څخه تر ۱۲ میله ، د نظارت لاندې ساحې پراخوالی تر ۲۴ میله او بالاخره اقتصادي سیمه تر ۲۰۰ میله پورې د سمندرونو په دننه کې وټاکل شوې. همدارنګه د نورو هیوادونو لکه د ډېروټاپو ګانو څخه جوړشوو هیوادو ، په وچو کې د راګیرو او بالاخره د سمندرونو څخه د ګټې اخستلو په اړوند د یوې نړیوالې ټولنې د جوړیدو پر موضوع باندې غور وشو چې دا پریکړه لیک د یو څه تعدیلاتو او تفصیلاتو سره د ۱۹۸۲ز کال په وروستیو کې د نړۍ له ۱۰۰ سلو څخه د زیاتو هیوادونو په وسیله په جمیکا کې لاسلیک شو.

په هر صورت پر سمندرونو باندې دهیوادونو د برلاسي او کنترول څرنګوالی په لاندې توګه واضح کېږي:

د داخلي اوبو ساحه (Internal Water) : دا هغه سیمه ده چې کوچني خلیجونه او ټولې هغه اوبه چې د وچو او پېل د کرښو تر منځ موقعیت لري په بر کې نیسي ،

ددې ساحې په تعقیب د سمندري قلمرو ساحه (Territorial Sea) موقعیت لري او دا هغه ساحلي سیمه ده چې له پېل کرښې څخه د سمندر په لور تریوې معلومې فاصلې پورې دوام لري. او هیوادونه پدې ساحلي سیمه کې د پوره پوره برلاسي لرونکي ګڼل کېږي. (۱- مخ ۷۴)

د سمندري قلمرو په ګاوند کې د نظارت لاندې ساحلي سیمه ده او دا هغه سیمه ده چې پلنوالی یې د بېلا بېلو هیوادونو لپاره توپیر لري او قسماً دهیوادونو دکنترول (ولکې) لاندې وي ددې سیمې د لرلو غوره موخه د سمندرونو له بستر څخه دکاني زیرمو په لاس راوړل، ماهي (کب) نیول او د نا قانونه سوداګرۍ کنترول کول دي (۱- مخ ۹۶)

# د افغانستان د سرحدي کرښو تاريخ

افغانستان د ښه او مناسب جغرافيايي او ستراتيژيک موقعيت ،لوړو غرونو ، پراخو جلګو ، شنو او ښايسته درو او څپاندو سيندونو په لرلو سره د تاريخ په اوږدو کې په منځنۍ اسيا کې غوره شهرت لرلی دی.
له يوې خوايې دا مناسب اقليم او ښه جغرافيايي موقعيت او د بله پلوه يې د ښې آب و هوا او د کرنې لپاره د مناسبې خاورې په لرلو او په همدې توګه شمال څخه د جنوب او له ختيځ څخه د لويديځ په لوري د تګ راتګ او د تګ راتګ په پايله کې د بېلا بېلو وګړو د کلتورونو د خلط کيدو او د لرغونو کرنيزو تمدنونو د راپيدا کيدو لامل ګرځيدلی.
د افغانستان په لرغونې خاوره کې بېلا بېل تمدنونه منځته راغلي چې ددغو بېلا بېلو تمدنونو د رامنځته کيدو مرکزونه سرحدونه او د قلمرو سيمې بېلا بېلې وی، چې د بېلګې په توګه يې له نظره تېروو.

د اريانا سرحدونه:

کله چې اريايانو د (۳۵۰۰ او ۴۰۰۰ م ز ) کلونو تر منځ خپل لومړنی مسکن اريانا ويجه يا اريانا ويجو (Ariyanem Vaejo ) د ( امو او سير سيندونو تر منځ ) څخه د امو سيند په لوری حرکت وکړ او د بلخ خواته وکوچېدل د بلخ تاريخي سيمې يې د وړ اب و هوا ، پراخو اوسر سبزو ځمکو او پريمانه اوبو په لرلو سره د اوسيدلو ځای وټاکلو . او په کرنيزو ، صنعتي او سوداګريزو کړنو يې پېل وکړو چې د لومړي ځل لپاره يې زمونږ دهيواد په تاريخ کې د بلخ شان او شوکت لرونکی او ښايسته ښار جوړ کړو چې دا تاريخي پېښه له نن څخه نژدې(۵۰۰۰ کاله ) وړاندې زمونږ د هيواد په تاريخ کې يو ځلانده ځپرکی دی.
په اوستايي دور کې د کرنيزو پرمختګونو تر څنګ په ښاري ژوند او ښار جوړولو کې د پخوا په پرتله زيات بدلونونه وليدل شول ، او د هغه مهال افغانستان په هر کنج او کنار کې کلي ،بانډې او معمور ( اباد ) ښارونه منځته راغلل او د هيواد هغه وګړي چې تر دې يې کوچي ژوند درلود ، پدې دوره کې په کليو او ښارونو کې

استوګن شول او په سوداګريزو صنعتي ، کلتوري اونورو کارونو لګيا شول ، هغوي سر ببره پردې چې سياسي پولې اوسرحدونه يې نه پيژندل، ولې د خپل کنترول او اداري لاندې ځمکو سره يې پوره اشنايي او بلديت درلود.

هغه مهال چې دا تاريخي هيواد د اريانا په نوم ياديدو د لرغوني اريانا سرحدونه د اوستا په حواله چې د امو سيند ، سند ، د هند سمندر او لوط دښتې ترمنځ ټاکل شوي وو ، او ددې خاورې جغرافيايي موقعيت د طول البلد او عرض البلد له مخې د **۲۵** درجو او **۴۰** دقيقو او **۴۰** درجو او **۵۵** دقيقو شمالي عرض البلدونو او **۵۵** درجو او **۳۰** دقيقو او **۷۵** درجو او **۵۰** دقيقو ختيځ طول البلدونو ترمنځ ټاکل شوی وو . (۱- مخ ۸)

د اويستا د دريمې برخې په لومړي کتاب کې چې (ونديداد ) نومېږي انسان ته ورته شاديانو ( بيزوګانو ) او دنيکه مرغه (اريانا د ځمکې يادونه پکې شوې چې د اريايي قبيلو استوګن ځای و ، چې په ټوليزه توګه يوه پراخه سيمه وه د لرغونې اوتاريخي اريانا سيمې او سرحدونه د اويستا په حواله کولی شو چې د سير سيند ، دهند سمندر او د ايران د لوت دښتې تر منځ وټاکو .

د اويستا د متن په حواله د اريانا دا لرغوني اوتاريخ سيمه له شپاړس ټوټو څخه جوړه شوې وه چې د هندوکش لوې غره څلورو خواووته پرله پسې پرتې وې ، تر کومه ځايه چې پرې ښېړنه شوې هغه سيمې چې ددې غره له بېلا بېلو ځايونو څخه خړوبېدلې هغه د اويستايي ځمکې مقدسه برخه وه چې په لاندې توګه به يې د هرې يوې څخه يادونه وکړو.

–اريانم ويجو (Airyanem, Vaejo) ددې دوه کلمو تحت اللفظي ( کټ مټ) معنا ( د اريايانو تخم ځای ) دی او په اصطلاحي ډول کولی شو ( اريايي تعليم ځای ) ورته ووايو چې پو هانو دا ځای دامو سيند(جيحون) او سير سيند ( سيحون ) تر منځ سيمه يا اوسنۍ فرغانه راښايي.

–سغده (Sughdha) : دا د سغديان سيمه ده چې د امو سيند ښي څنډوته پرته ده.

–مورو (Mouru) : دا د مروې د سيمې يا ارغنداو څخه عبارت ده چې منځني افغانستان له غرونو څخه سرچينه نيسي او د مروې له شاو خوا څخه تېريږي.

–بخدي (Bukhdi) : چې د ښکلې خاورې په نوم ياده شوې دا هماغه ( بلخ الحسنا ) او يا ( بلخ ګزمن) ده چې د لرغوني اريانا له غوره ټوټو څخه وه.

–نیسایا (Nisaya) : چې موقعیت یې د مرغاب او بلخ تر منځ ټاکل شوی ، ځینې وګړي یې عشق اباد ولې زیات شمېر یې میمنه بولي.
–هروي وه (Haroya) : ددې ټوټې ځمکې دموقعیت ټاکنې په اړوند عالمان شک او ګومان نه لري ، دا سیمه عبارت ده له هغې سیمې څخه چې عادتاً د هرې رود په نوم یادیږي په وروستیو کې یې نوم کې څه بدلون راغی ، دا نوم تر اوسه پورې په دې سیندنۍ سیمه کې ځرګندیږي ( اوسنۍ هرات سیمه )
–ویکره ته (Vackerata) : هغه پوهان او شنونکي چې لرغونې دورې په جغرافیه پوهیږي دا سیمه یې د اوسني کابل سیمه ښودلې.
–اوروا (Urva ) : یو شمېر تاریخ پوهان پدې آند دي چې یاده شوې سیمه ( طوس ) یا دغزني سیمه ده ، په ځینو ماخدونو کې ( ارګون ) او دهغې شاوخوا سیمې ( اوه ) یاده شوې.
–خننتا (Khanenta) :     یو شمېر پوهانو یاده شوې سیمه د ( هیرکانیا ) یا ګرګان په سیمه تعبیر کړې ده.
–هرې ویتي یا (اراویتي ) (Haravaiti): د ارغنداب د سیند ګوټي نوم و.
–ای تومنت یا هیتو منت ( Haetumant ) : تومنت هماغه (( ایتو مندرس )) ده چې یوناني جغرافیه لیکونکو یې یادونه کړې او د هلمند سیند غاړې ترې مطلب دي ، دا سیمه په اسلامي دوره کې ( نیمروز ) بلل کېده.
–راغا یا ره ګه (Ragha) : ددې سیمې ځینې برخې یې ( ری ) بولي چې ګنډوالې یې د ایران ترختیځې سیمې پرتې دي ، په بدخشان کې هم د ( داغ ) په نوم یوه سیمه لرو.
- کخره (Kakhara) : ډامسټر فرانسوي ددې سیمې موقعیت په غزني کې ښایي.
–ورنا یا ورنه (Varena ) : ځینې تاریخ پوهان ددې سیمې موقعیت بامیان او د بند امیر سیمه ګڼي.
–هپته هندو (Hapte Hindo ) : یا اوه سیندونه یعنی او سنۍ پنجاب.
- رانګا (Ranga ): ځیني پوهان یې موقعیت د سیر سیند راښايي. ولې ځیني نور یې په دې اند دي چې دا سیمه نامعلومه ده.
په هر حال لکه څرنګه چې د پخوانیو او اوسنیو نومونو له یادونې او لنډې شرحې څخه یې معلومیږي ددې شپاړس سیمو موقعیت د هندوکش شاوخوا او

داكسوس ( اموسیند ) او اندوس ( سند سیند ) تر منځ ټاکي چې د افغانستان ټوله خاوره پکې راګیره ښودل شوې ده . ( ۴ – مخونه ۲۳-۲۵ )

د یونان او باختري سرحدونه:

هغه وخت چې مقدوني سکندر په (۳۳۲ ق م ) کې پردي خاوره یرغل وکړ ددې هیواد په تاریخ کې یو بل څپرکی پرانستل شو ، پدې مانا چې د سکندر د یرغل وروسته یو شمېر یونانیان پدې هیواد کې میشت شول چې ددې خاورې د وګړو سره یې په فرهنګي فکري او ټولنیزو حالاتو کې د پیوستون له امله دا پایله شوه چې یوناني وګړو ددې خاورې د اوسیدونکو سره یو ځای د یو نوي کلتور یا فرهنګ مدینت بنسټ کېښود ، دا فرهنګ چې د دوه اریایي او یوناني تمدنونو اوفرهنګونو څخه د اختلاط په پایله کې را پیدا شوی و د یونان او باختري تمدن Greeco ) (Bactrian په نوم یې شهرت پیدا کړ چې پدې وخت کې دا خاوره د یونان باختري دولت یا باختري په نوم نومول شوې وه (۱۰- مخ ۱۰)

د یونان و باختر په دوره او بیا په تېره ددمتریوس (۲۰۰—۱۲۰ق م) په دوره کې ددې خاورې ختیځ سرحدونه ترسند او د هندوستان شمالي برخو او ډګنګا تر سو احلو ورسیدل ، نو ویلی شو چې ددې خاورې سیاسي سرحدونه د ایران له دښتو څخه تر ګنګا او له سیحون ( سیر سند ) او جیحون (اموسیند ) څخه ترد هند سمندر پورې وغزیدل . ( ۱۲- مخ ۴۲ )

همدارنګه په دویمه میلادي پیړۍ کې د بودیزم پرمختګ او خوریدل پدې خاوره کې او دکوشانیانو د امپراطورۍ تاسیسیدلو ددې ملک په تاریخ کې یو بل ځلانده څپرکی پرانیستلی چې تر اوس مهاله دهغه وخت د بودایي ښارونو او عبادت ځایونو ګڼ شمېر پاتې شوني دهیواد په بېلا بېلو سیمو کې لیدل کېږي.

پدغه وخت کې بیا هم دا هیواد تقریباً په پخوانیو سرحدونو سره د باختر په نوم یادیدو . ( ۱۰- مخ ۱۰ ) . دغه مطلب په ( ۴ نقشه ) کې ښودل کېږي.

د خراسان سرحدونه:

د کوشانیانو او بیا په ځانګړې توګه دکنیشکا (۱۲۰-۱۷۰ز ) په وخت کې د افغانستان سرحدونه دجیحون اوګنګا د سیندونو او تارم څخه تر ایران غزیدلي و و. (۱۲- مخ ۵۰ )

په اوومه او اتمه میلادي پیړۍ کې چې د عربو فتوحات په منځنۍ اسیا هیوادونو او زمونږ پر خاوره پېل شول ،پدې خاوره کې د اسلام مبین دین خوریدلو پدې خاوره کې ددې هیواد په تاریخ کې یې یو بل پړاو پرانیست.

داسلام مبین دین په دې هیواد کې پراختیا وموندله او د هغه وخت افغانستان کې یې نور لوې دینونه لکه زردشتي ، بودایي ، نسطوري ، برهمنیزم او داسې نور له منځه ویوړل او د اسلام دین د یو قوي قوت په حیث رامنځته شو.

په همدې توګه زمونږ د هیواد پخواني مدنیت او فرهنګ لکه دنورو منځني ختیځ هیوادونو په څېر اسلامي روحیه غوره کړه او یو نوی روښانه اسلامي مدنیت یې رامنځته کړ چې په منځینو پیړیو کې دنړۍ د ځلانده او پیاوړو تمدنونو څخه شمېرل کیدو ،هغه مهال دهیواد دټولو فرهنګي اوسیاسي بدلونونو سر بېره ددې خاورې نوم هم په خراسان سره تبدیل شو . (۱۱ – مخ ۱۵ )

د تاریخي باوري اسنادوله مخې د پنځمې میلادي پیړۍ څخه راپدیخوا تر (۱۹ز ) پیړۍ پورې دا خاوره د خراسان په نوم پېژندل کېده.

په لومړیو کې د خراسان نوم یوې کوچنۍ ټوټې ځمکې ته منسوب و او ورو ورو پکې نورې پراخې سیمې راګیرې شوې ، د افغانستان دشمال او شمال لویدیځ ولایتونه لکه تخارستان (بدخشان او قطغن ) بلخ (مزار شریف اومیمنه ) مرغاب ، هرات، مرو ، طوس اونیشاپور د خاص خراسان په نوم یادیدل.

سربېره پر دې ځینې نورې سیمې یعنې د هندوکش جنوبي سیمې یا د افغانستان ختیځې ، جنوبي او جنوب لویدیځې سیمې ، اوسنۍ پښتونستان او بلوچستان هم په خراسان کې شاملې سیمې وې چې دا وروسته یادې شوې سیمې دعام خراسان په نوم پیژندل کېدې.

دعـام او خـاص خراسـان د سـرحدونو پـه شـمال کـې د خـوارزم ( مـاورالنهر او فرغانه ) جنوب خواته يې د هند سمندر ، ختيځ لوري ته يې سيند او جهلم او لويديځ لوري ته يې د لوت دښته او کرمان پراته وو.

پـه افغانسـتان کـې د اسـلام مقـدس ديـن د خپريـدو وروسـته يـوه لـړۍ لـوې بادشـاهۍ لکـه د طاهريـانو ، صـفاريانو ، سـامانيانو ، غزنويـانو ، سـلجوقيانو ، غوريانو ، خوارزمشاهيانو ، تيموريانو ، صفويانو ، بابريانو ، هوتکيانو ، ابداليانو او محمد زايانو تاسيس شوې چې د ذکر شوې هرې لړۍ د قلمرو سيمې او سرحدونه بېلا بېل وو . ( ۱۰- مخ ۱۱ )

د صـفاريانو د عـروج پـر مهـال دهغـوي پـه سياسـي پولـو کـې د سيسـتان ، زابلسـتان ، کابلسـتان ، هـرات ، بلـخ ، تخارسـتان ، کرمـان ، فـارس ، طبرسـتان ( د فارس په ملک کې ) شاملې سيمې وې . ( ۲۰ – مخ ۲۰ )

دغه مطلب په ( ۵ نقشه ) کې ښودل کېږي

د غزنويانو په تېره د سلطان محمود غزنوي دواکمنۍ پر مهال د افغانسـتان سـرحدونه ډېـر پـراخ او غزيـدلي وو. د بېلګـې پـه توګـه سلطان محمـود غزنـوي پـدې وتوانيدو چې دغرب په لورې له اصفهان څخه تر عراق ، همدان او طبرستان ختـيځ لورته د ګنګا تر څنډو د شمال په لورې تـر خـوارزم ، د سهيل پـه لـوري د بلوچسـتان تـر کڅو او کاتيـاوار پـورې يـوه لويـه شاهنشـاهي جوړه کړي. ( ۴۲۰ ل ۱۰۲۹ ز ) . ( ۲ – مخ ۱۲۰ )

دغــــه مطلــــب پــــه ( ۲ نقشــــه ) کــــې ښــــودل کېــــږي

د سلجوقیانو د قلمرو سیمه د لویدیځ په لوري ډېره غزیدلې وه ، یعنې د کاشغر او منځنۍ اسیا څخه تر روم بحیرې ( مدیترانې ) پورې یې پراخوالی درلود.
هغه مهال چې غوریانو په افغانستان کې واکمني درلوده د خپلې واکمنۍ پر مهال یې لس ولایتونه لکه غور ، بامیان ، غزنه ، ملتان ، لاهور ، سند هواچه ، فیروز کوه ، سیستان ، مکران او وخش یې د خپلې اداري لاندې درلودل. (۱- مخ۱۲)
دغه مطلب په ( ۷ نقشه ) کې ښودل کېږي.

د هوتکیانو په دوره کې هم د افغانستان سرحدونه ډېر پراخ او تر لیرو سیمو پورې غزیدلي وو او په ځانګړي توګه هغه مهال چې شاه حسین په کندهار کې واکمن و ( ۱۱۳۵ز ) دده د پاچاهۍ پر مهال د افغانستان سرحدونه له هرات ، فراه او شین ډنډ ( سبزوار ) څخه نیولې تر غزني او ګومل پورې رسیدل او هم یې د شال ( کوټې ) او پښین سیمې د پنجاب له سرحدونو څخه تر ډېره اسماعیل خان او ډېره غازي خان پورې ونیولې. هغه مهال د هوتکیانو شاهنشاهي د اوسني بلوچستان په ګډون د جلې له غاړو څخه تر ملتان پورې رسیدلې وه او همدارنګه د لویدیځ په لورې تر مشهد ،نیشاپور او اصفهان پورې رسیده. (۲ – مخ ۲۷۵ )
له پورتنیو څرګندونو څخه ویلی شو چې د افغانستان سرحدونو په بېلا بېلو تاریخي دورو کې توپیر درلود . د بېلګې په توګه ددې هیواد سیاسي پولې یو وخت تر تارم ( کاشغر ) او کله تر ترکستان یا ماورالنهر او کله تر ایران او بیا کله تر هندوستان پورې غزیدلې وې ، وروسته افغانستان د شمالي ، لویدیځو او ختیځو هیوادونو سره په ګاونډیتوب کې دزیاتو واحدونو لرونکی هیواد جوړ شو او ځینې وخت بیا د پردیو دیرغلونو په اثر دخپلو سرحدونو زیاتې برخې یې له لاسه ووتلې او یا هم تجزیه او ټوټه کیدو . د بېلګې په توګه په شپاړسمه (۱۲ز) پیړۍ کې هغه مهال چې شیبانیانو په شمالي او صفویانو په لویدځ او بابریانو د افغانستان په ختیځ کې بر لاسی پیدا کړو ،نه یوازې دا چې د افغانستان د قلمرو سیمې محدود شولې ، ولې سیاسي سرحدونه یې هم د خطر سره مخامخ وو ، او پر دریو ټوټو وویشل شو چې دې حالت نژدې دوه نیمې پیړۍ دوام وکړو. یعنې ( ۱۵۰۰ – ۱۷۴۷ز ) پورې.(۱۰ – مخ ۱۲ )
له دې وروسته په افغانستان کې د ازادۍ غوښتنې غورځنګونه پیل شول چې په پایله کې د صفویانو نفوذ رامنځته شو او په افغانستان کې یې یو خپلواک هیواد

رامنځته کړو. دا چې له یوې خوا دا دوره لنډه وه ( یعنی د میرویس خان له قیام څخه ۱۰۸۷ل یا ۱۷۰۹ز تر د نادر افشار دراتلو پورې (۱۲۵۲ل یا ۱۷۳۱ز) او له بلې خوا دافغانستان ټولې د قلمرو سیمې بېرته په لاس رانغلې ، ولې بیا هم احمد شاه بابا پدې وتوانیدو چې د ۱۸ز پیړۍ په نیمایي کې د افغانستان نوی تشکیل جوړ او پخوانۍ دبدبه یې بیا راژوندۍ کړي.

هغه مهال چې احمد شاه بابا په افغانستان کې دیو واکمن په حیث وټاکل شو ،نوپه خراسان کې یو واحد اوقوي حکومت رامنځته شو او د نوموړي د سیاسي اونظامي کارونوپه پایله کې د هیواد پخواني او تاریخي سرحدونه( د اریانا پخوانۍ ځمکې ) بېرته پخوانۍ بڼه اختیار کړه. له دې مودې وروسته دا هیواد د نړۍ په سیاسي نقشه کې په افغانستان ونومول شو( ۱۷۵۷ز یا ۱۱۳۵ل )، چې سرحدونه یې له شمال لوري په آمو سیند د جنوب له خوا دعربو په بحیره او عمان خلیج او دلویدیځ په لوري په کرمان او دختیځ له لوري دهند ترسرحد او د تبت دغرونو لړیو پورې ورسیدل(۱۰- مخ ۱۳)

احمد شاه بابا د افغانستان د سرحدي حدودو په هکله دا سیاست تل په نظر کې درلود چې جغرافیایي سرحدونه د افغانانو دخپل ځاي کلتور په سیمه کې د سیاست سره متوازن وساتي او پدې آند و چې هر څومره چې دغه سیاست په مدبرانه توګه ساده پیاده شي هماغومره به افغانانو ته تاریخي بقا په برخه شي.

احمد شاه بابا په دې برخه کې درې اصول تطبیقول.

یوه هغه سیمه وه چې هلته افغانان اوسیدل ، دا اصلي افغانستان و ، دویم هغه قبایلي سیمې وې چې قبایل پکې اوسیدل او د هغوي روحیه زیاتره بد وي وه او د مرکزیت اوقانون څخه یې فرار کاوه ، دوي به یې هم ازاد پرېښودل او ورته به یې اجازه ورکوله چې دهغوي د عنعناتو سره سم خپلې ستونزې په دودیزه توګه دجرګو له لیارې حل کړي.

ښاري اومدني موسیساتو کې یې دچارو مسئولان دې ته متوجې کول چې ددغو بدوي قبایلو د مرستې لپاره له خوصلې څخه کاروا خلي،احمد شاه بابا زیاتره دغه قبیلې دهندوستان په جګړو کې له ځان سره بیولې او لدې لارې ښه بډاي شوی هم و.

دربیمه برخه هغه په ګورګاني هند ، نادري خراسان اوجنیدي بخارا کې دولتونه وو چې سیمې اوخلک یې احمد شاه بابا د واک په سیمه کې ساتل او دا درې ډولونو په حقیقت کې د احمد شاه بابا لپاره د اصلي افغانستان د ساتنې او دفاع لپاره امنیتي او اقتصادي ارزښت درلود.

احمد شاه بابا دخپل سیاسي او نظامي ژوند پر مهال تر لس (۱۰) ځله زیات هند او د افغانستان شمالي برخو ته جګړه ییز سفرونه کړي او ځان یې د ملک دپراختیا لپاره ډېر ستومان اوستړي کړ چې ناروغي او مرګ یې هم له همدې ستړتیا څخه وه.

احمد شاه بابا د وفات پر مهال یوه پراخه امپراطوري په میراث پریښوده چې ختیځ کې د هند تر سرحده ، په لویدیځ کې دمشهد ، غرب ته تر سبز واره پورې او دشمال په لوري دآمو سیند او جنوب په لورې د عرب سمندرګي تر غاړو پورې رسیده.

پورته څرګندونې د اتلسمې پیړۍ په اومه لسیزه کې د افغانستان د امپراطورۍ سرحدونه وو . خو دا ټول افغانستان نه و ، بلکې احمد شاه بابا افغانستان له اباسین څخه تر مشهده او د آمو څخه تر عربو سمندرګي پورې باله اوکشمیر ،پنجاب ، سند او خراسان یې د افغانستان ملحقات بلل.

احمد شاه بابا ډېر مدبر ، جنګي قوماندان او پاخه اداري کدرونه یې هم درلودل ،نوځکه یې امپراطوري نسبتاً ارامه وه ، خو دده تر وفات وروسته دغه نقشه ونړېدله. (۷–مخونه ۳۶-۳۷ )

دغه مطلب په ( ۸ نقشه ) کې ښودل کېږي

نقشه۸

# د افغانستان اوسني سرحدونه

افغانستان چې په اوسنۍ بڼه د نړۍ په نقشه کې ځای لري بېلا بېلې تاريخي دورې يې تېرې کړې چې په بېلا بېلو نومونو ياد شوی، لکه چې د تاريخ په پاڼو کې ذکر شوي چې دا هيواد يو وخت د اريانا، بل وخت يونان و باختر وروسته خراسان او له احمد شاه بابا د واکمنۍ را وروسته په افغانستان سره ونومول شو.

ددې خاورې پراخوالي او سرحدونو په بېلا بېلو دورو کې د نړېوالې وضعې او واکمنانو د قدرت په نظر کې نيولو سره توپير درلود. يعنې د افغانستان سياسي پولې د وخت په توپير سره کله د تارم (کاشغر) په حوزه ځينې وخت په ترکستان او ماور النهر ځينې وخت په ايران او ځينې وخت تر هندوستان پورې غزېدلې دي چې زياتره وخت يې سياسي پولې او سرحدونه په اصلي او اخيرني سرحد پورې رسېدلي وو. د بېلګې په توګه د ارياڼانو په دوره (۳۰۰۰ ق م) کې، د يونان او باختري بادشاهانو په دوره (دويم ق م پيړۍ) کې، کوشاني بادشاهانو په دوره (۲ ز پيړۍ) کې، د يفتلي بادشاهانو په دوره (۵ ز پيړۍ) کې، د صفاريانو د واکمنۍ پر مهال (۹ زپيړۍ)، د غزنوي شاهانو په دوره (لسمه او يوولسمه زېږديز پيړېو کې)، غوري شاهانو په دوره (۸ او ۹ ز پيړيو کې) دا خاوره د ډېرو پر مختګونو او غوړېدنو شاهده وه.

په همدې ترتيب ځينې وخت افغانستان د شمالي اولويديځو ګاونډيو هيوادونو (ماورا النهر او ايران) سره يو واحد هيواد جوړولو د بېلګې په توګه د سامانيانو (۹ او ۱۰ز پيړۍ)، خوارزمشاهيانو (۱۳ز پيړۍ)، د امير تيمور ګورګاني (۴ ز پيړۍ) او نادر افشار (۱۸ ز پيړۍ) د واکمنيو پر مهال يې د ګاونډيو سره مشترک هيواد جوړولو.

همدارنګه ځينې وختونه د افغانستان سرحدونه د نورو د يرغلونو پر وړاندې سستيدل او راکميدل، د بېلګې په توګه د هخامنشيانو(۶م ز پيړۍ)، د مغلو (۱۲ او ۱۷ز پيړۍ) او شيبانيانو (۱۲ او ۱۷ز پيړۍ) د واکمنيو پر مهال د افغانستان سرحدونه د دجلې سرحدونو څخه راتنګ شوي وو.

ليکن هغه مهال چې احمد شاه بابا قدرت ته ورسيدو د هيواد سياسي سرحدونه خپلو اصلي لومړنيو سرحدونو (د اريانا سرحدونو) په لوري تر کرمان، د جنوب په لوري د هند تر سمندر او عمان خليج او د ختيځ په لوري د هند تر سرحد او

تبت غرونو پورې ورسیدل چې په انګلیزه توګه دا خاوره په هغه مهال کې د شمالي عرض البلدونو په ۲۵ درجو او ۴۰ دقیقو او ختیځو طول البلدونو ۵۵ درجو په منځ کې راګیره وه.(۱۰-مخونه۱۲-۱۷)

د ۱۹ز پېړۍ په پیل د شاه محمود واکمنۍ پر مهال له یوې خوا د ورونو تر منځ داخلي کرکې او بې اتفاقۍ او وروسته د دوه قومونو سدوزیو او بارکزیو تر منځ سیالیو او همدارنګه د تزاري روسیې او برتانیې د سیاست د عملي کیدو سره د افغانستان شمال ختیځ ، جنوب ، ختیځ او شمالي لوري په خطر کې پرېوتل چې دا خاوره د اوږدې مودې لپاره د سیاسي اخ و ډب او سیالیو ډګر و او د هیواد په هر لوري پراخې سیمې زمونږ د هیواد له لاسه ووتې او په اوسنۍ بڼه یو په وچه کې راګیر او تنګ هیواد باندې بدل شو (۱۰-مخ ۱۸)

دا چې ارتجاعي امپریالیستي قواوې افغانستان ته د کمین په حال کې وې د مناسب فرصت څخه یې ګټه واخېسته او جریانات یې د ځان په ګټه سوق کړل چې په پایله کې خپلې هغه موخې ته چې غوښتل یې ورسیدل ، لکه چې په شمال لویدیځ کې د خراسان ولایت په (۱۸۰۲ ز ) کې د قاجاریانو په وسیله ، د سند سیند په غاړه د اټک کلا په (۱۸۲۴ز ) کې کې د پنجاب د سیکهانو ، د ملتان ولایت په ( ۱۸۱۸ز ) کې د سیکهانو ، د کشمیر ولایت په ( ۱۸۱۹ز ) کې د پنجاب د حکومت ، د ډېره اسماعیل خان ولایت په( ۱۸۲۱ز ) کې د سیکهانو ، د ډېره غازي خان ولایت هم په (۱۸۲۱ز ) کې د پنجاب د حکومت ، د پېښور ولایت په (۱۸۳۲ز ) کې د سیکهانو د حکومت ، د سند ولایت په (۱۸۴۲ز ) کې د برتانوي هند ، د بلوچستان ولایت په (۱۸۴۵ –۱۸۷۲ز ) کلونو کې د برتانوي هند ،د مرو ولایت په( ۱۸۸۴ز ) کې د تزاري روسې ، کرمه لنډي کوتل او خیبر په (۱۸۷۸-۱۸۷۹ز ) کې د ګندمک د تحمیلي تړون په وسیله ، د سوات باجوړ چترال او چمن ولایتونه په (۱۸۹۳ز ) کې د ډیورند جبري ترون پر بنسټ د برتانوي هند په وسیله له افغانستان څخه بېل شول. او د افغانستان د خاورې زیاتې برخه د پردیو په لاس کې پریوتې چې په وچه کې راګیر هیواد باندې بدل شو.( ۱۰- مخ ۱۹)

د افغانستان شمالي سرحدونه

-د پامیر سرحدي کرښه:

دا سرحد چې د ویکتوریا ( زرکول ) جهیل له ختیځو برخو څخه پېلیږي او د لوړو برخو د تېریدو وروسته د یولي تر درې پورې امتداد لري دا سرحد د پامیر د کرښې په نوم یادیږي. دا سرحد په( ۱۸۹۵ز ) کې ټاکل شوی ، د چین د ولسي جمهوریت د تاییدیدو ( ۲۱ سپتمبر ۱۹۴۹ز ) وروسته یو ځل بیا د چین د ولسي جمهوریت سره پدې اړه خبرې اترې پېل شوی چې په (۱۹۵۷ز (۱۳۳۶ل ) ) کې موافقې ته ورسیدل چې د دواړو هیوادونو تر منځ سرحد تعین او د ځمکې پر مخ تثبیت شي. ( ۱۰-مخ ۳۳ )

د پامیر سرحدي کرښه چې د امیر عبدالرحمن خان د واکنۍ پر مهال په ۱۸۹۵ز په لندن کې د روسې د سفیر او انګریزانو د باندینو چارو وزیر تر منځ په نښه شوې وه چې په پایله کې لوی پامیر تاجکستان او کوچنی پامیر افغانستان ته ورکړل شو او هم د واخان دهلیز په ناغوښتلې توګه د امیر پر غاړه وروځړول شو . دغه سرحدي کرښه ۱۰۰ کیلو متره اوږد والی لري. دغه کرښه د دواړو هیوادونو ( افغانستان او تاجکستان ) تر منځ له اوږدو مذاکراتو وروسته یو منل شوی سرحد دی چې خپل ټول قانوني پړاوونه یې بشپړ کړي دي او دغه سرحدي کرښې د دیجوري (Dejure )بڼه غوره کړې ده او د دولتونو تر منځ د یو طبعي سرحد په توګه منل شوی. ( ۷-مخ ۱۴۱ )

-د امیر شیرعلي خان سرحدي کرښه:

مخکې تر دې چې تزاري روسیه خپل سرحدي قلمرو سهیل لورې یعنې منځنۍ اسیا ته پراخه کړي د افغانستان د شمالي پولو ټاکنه د افغانستان د سیمه ایزو حکومتونو او مرکزي اسیا دخانانو یا د افغانستان د مرکزي حکومت اوماورالنهر د مشرانو تر منځ شوې وه ، خوکله چې د تزاري روسې پرمختلونکی سیاست د ۱۹ز پیړۍ په اوږدو کې پېل شو او په منځنۍ اسیا کې یې نیونې پېل کړې

نو انګریزانو ددې لپاره چې د هند په شمال کې د خپلو استعماري ګټو د ساتنې لپاره ډېر استحکامات ولري نو د تزاري روسې د مشرانو له قصدونو څخه په ویره کې شول او وې غوښتل چې زر تر زره د روسانو د حملو په مقابل کې ځنډ او خنډ رامنځته کړي نو ځکه انګریزانو په لومړیو پړاونو کې د افغانستان امیر وهڅاوه چې روسانو سره خپل سرحدونه تثبیت کړي. (۲- مخ ۵۵)

کله چې امیر شیرعلي خان دویم ځل واکمنۍ ته ورسید ، د روسانو پرمختګ د منځنۍ اسیا او د افغانستان شمالي سرحدونو په لوري د امیر شیرعلی خان او انګریزانو د واړو د تشویق او نګرانۍ سبب شو ، انګریزانو چې د افغانستان او روسې تر منځ د سرحد په ټاکلو کې خپله ګټه لیده ډېر زر یې مداخله وکړه او خپل استازی یې سن پترز بورک ته ولیږه تر څو د افغانستان شمالي سرحد په اړه د روسې سره خبرې وکړي پدې استازوکــــــې د انګلیستان باندنیو چاروو زیر لارډ ګرینول (Lard Granville )* او د تزاري روسې د باندنیو چارو وزیر پرنس کورچکوف (Prince Corchakove) د افغانستان او تزاري روسې د سرحدونو د ټاکلو لپاره وټاکل شول ، دې خبرو د (۱۸۶۹-۱۸۷۳ز ) پورې دوام وکړ بالاخره په (۱۸۷۳ز) د افغانستان شمالي پوله په نقشه کې تثبیت شوه ( ۱۳-مخ ۵۵ )

دغه سرحدي کرښه د امو دسیند د بهیر په امتداد د ویکتوریا له جهیل (زرکول) څخه تر خم آب پورې رسیږي چې د امیر شیرعلي خان د کرښې په نوم یادیږي چې ( ۱۲۰۰ کیلومتره اوږدوالي لري ) .دغه سرحدي کرښه چې د انګلیسانو د مداخلې په پایله کې د افغانستان او تزاري روسې تر منځ ټاکل شوې څرنګه چې د هیوادونو ترمنځ د امو سیند د بیلتون وسیله ده نو دا سرحدي کرښه یو طبعي کرښه ده چې خپل ټول قانوني پړاوونه یې تېر کړي دي او د دیجوري Dejure بڼه یې اختیار کړې. (۱۱- مخ ۱۰)

- درجوي سرحدي کرښه:

کله چې امیر عبدالرحمن خان په (۱۸۸۰ز ) کې د چارو واګې په لاس کې واخیستې نو پر ځمکه باندې د افغانستان د شمالي پولو د تثبیت په هڅه کې شو ، په همدې اساس د تزاري روسې او برتانیې تر منځ خبرې بیا پیل شوې او په پایله کې یې داسې پریکړه وکړه چې د دریو واړو هیوادونو استازي دې د **۱۸۸۴**ز کال په نومبر کې سرخس ته حاضر شي ولې نه یواځې دا چې په ټاکلي مهال د روسې استازي ځای ته رانغلل بلکې د (**۱۸۷۳**ز ) کال د تړون پر خلاف د تزاري روسې فوځونو په منځنۍ اسیا کې خپلو حملو ته تر هغه دوام ورکړ چې پنجدي ته راورسیدل او د خاتون له پول څخه چې د هریرود د سیند پر سر جوړ شوې د نظامي هډې په توګه یې کار واخیست ، افغاني فوځیانو چې د پنجدي او شاو خوا سیمو د ساتلو لپاره ځای په ځای شوي وو د روسې عسکرو په ګواښونو یې پروا ونه کړه چې بالاخره د افغاني عسکرو چې شمېر چې له دوه زره (۲۰۰۰ ) پیاده او سپرو څخه نه ډېریدو ، د روسي عسکرو سره په جګړه پیل وکړ. د افغاني عسکرو مشر جنرال غوث الدین خان او د روسې عسکرو مشر علي خانوف (Ali Khannove ) نومیدو ، په پای کې افغاني عسکرو د شمېر کموالي او جنګي وسایلو د نشتوالي له امله ونشو کړای چې د پنجدې څخه دفاع وکړي، هماغه و چې په **۱۸۸۵**ز یا **۱۲۶۳**ل ل ) کې پنجده او اق تپه د روسې قواوو اشغال کړه.

له دې پېښې وروسته یو ځل بیا د انګریزانو او روسانو ترمنځ په لندن کې خبرې اترې پیل شوې تر څو چې په (**۱۸۸۷**ز یا **۱۲۶۵**ل ل ) کې یو شپږ فقــــره ایز پروتو کول لاسلیک شو او د هیواد شمال لویدیځ سرحد چې د ریجوې Ridge ) (Way د کرښې په نوم یادیږي د انګلیسي استازي چارلیس یت(Charles yate ) اوروسي استازي کپتن کامروف(Kamorove ) لخوا د څلور کلونو په موده کې د **۶۴۰** کیلو متره په اوږدوالي له خم آب څخه تر ذوالفقار درې پورې د یوې قوسي کرښې په څېر تثبیت او د سیمنټي پایو په وسیله وټاکل شو.

څرنګه چې دغه سرحدي کرښه د هیواد په شمال لویدیځ څنډو کې واقع ده او د سیمنټي پایو یا پیلرونو په وسیله د دواړو هیوادونو تر منځ ټاکل شوی او خپل ټول قانوني پړاوونه یې تېر کړي یو دیجوري Dejure او مصنوعي سرحد دی.

## د افغانستان لويديځ سرحدونه

### د فخري سرحد:

له سياه کوه څخه د ذوالفقار تر خولې پورې چې د افغانستان په شمال لويديځه برخه کې واقع دی څو ځله د افغانستان او ايران تر منځ سرحد ټاکل شوې. مګر کومه غوڅه پريکړه پدې اړوند نه وه شوې، تر څو چې د واړو هيوادونو پدې هکله د ترکيې څخه په (۱۹۳۵ز) کې د منځګړيتوب غوښتنه وکړه ، د ترکيې (Turkey) هيواد جنرال فخرالدين التاى ددې ستونزې د حل لپاره وټاکلو ، جنرال فخرالدين التاى له ډيرو پلټنو وروسته خپله پريکړه د واړو هيوادونو ته واوروله او د افغانستان لويديځ سرحد يې له سياه کوه څخه د ذوالفقار تر درې پورې تثبيت او وټاکلو ، دغه سرحدي کرښه ۴۵۰ کيلو متره اوږدوالې لري.
دغه سرحدي کرښه چې په (۱۹۳۵ز ) کال د ايران او افغانستان ترمنځ د ترکيې هيواد په منځګړيتوب د سيمنټي پايو يا پيلرونو په وسيله ټاکل شوې. څرنګه چې زمونږ د هيواد دا کرښه د دواړو هيوادونو له موافقې څخه وروسته تعين او تثبيت شوې نو يوه ديجوري Dejure او مصنوعي سرحدي کرښه ده .(۱۰ مخونه ۳۰-۳۱ )

### د مکمهان سرحدي کرښه:

سيستان د احمد شاه بابا له مړينې وروسته دهغه ځاى ناستې تيمور شاه تر مړينې (۱۷۹۳ز ) کال پورې افغانستان ته باج ورکولو ، خو کله چې په درانيانو کې کورني اختلافات پيدا شول نو سيستان به کله په هرات او کله په کندهار پورې تړل کيدو ،د ايران دولت هم تر يوه وخته پورې د داخلي بوختيا له امله ونه شو کولی چې سيستان ونيسي.ولې هغه مهال چې په ( ۱۸۵۱ز ) کې د هرات حاکم يار محمد خان مړشو ايران د افغانستان د داخلي ګډوډويو څخه ګټه واخيسته او د خپلې ادعا د ثبوت لپاره يې ټينګار کاوه ، ويل به يې چې سيستان نادر افشار ته هم باج ورکړې او يو محلي حاکم علي خان يې تشويق کړ چې د ايران بيرغ پورته کړي نو موري ته يې يوه ايرانۍ ښځه هم ورکړه.

د ایران او افغانستان تر منځ په غربي سرحد کې سخت کړکیچ موجود وو د امیر شیرعلي خان په وخت کې چې امیر په کورنیو جګړو کې بوخت و د ایران حکومت له وخت څخه ګټه واخیسته چې سیستان ولایت ( نیمروز ولایت ) کې یې پر مختګ وکړ ،ځینې سیمې یې ونیولې ، کله چې امیر شیرعلي خان دویم ځل واک ته ورسیدو او داخلي شورشونه یې غلي کړل د سیستان مسئلې ته یې پام راوګرځیدو. نژدې وچې د ایران او افغانستان هیوادنو تر منځ خونړۍ جګړې پېل شي خو انګریزانو چې تل یې د افغانستان پر ضد سیاسي عملونه تر سره کول په ښکاره منځګړیتوب ته چمتو شول په _۱۸۷۲ز ) کې یو استازی د سرفریډ ریک ګولډ سمت (Sir Fridric Gold Smith ) تر مشرۍ لاندې ددې کار لپاره وګومارلو. د افغانستان استازی سید نور محمد او د ایران استازی میرزا معصوم و. دغه تن (سمت ) چې په نفاق اچولو کې یې سابقه درلوده د ایران په ګټه فیصله وکړه او سیستان یې په دوه برخو وویشلو.

د انګلیسي هئیت رئیس فرید ریک ګولډ سمت Sir Fridric Gold ) (Smith د ایراني او افغاني استازو د مشرانو سید نور محمد خان او معصوم خان په ګډون دوه کاله په سرحدونو کې پلټنې وکړې چې بالاخره په (۱۸۷۳ز (۱۲۱۱ل ل ) ) کې یې داسې پریکړه وکړه.

دهلمند سیند ښکتنې برخه یې په دوه برخو وویشله هغه ځمکې چې د نادعلي سیند لویدیځ ته پرتې وې په خاص سیستان یې ونومولې او ایران ته یې ورکړې او د نادعلي سیند ختیځې برخې یې چې د ماورای سیستان په نامه ونومول شوې افغانستان ته یې ورکړې. دغه ویش د افغانستان په تاوان و چې په پایله کې یې د انګلیسانو او امیر شیرعلي خان تر منځ اړیکې ضرري شوې ، انګلیسانو ددې لپاره چې امیر شیر علي خان خوشاله کړي د ګولډ سمت(Gold Smith ) پریکړه یې یوه سهوه وبلله او (۱۲) لکه کلداري یې د ناغې په توګه ومنلې خو امیر شیرعلي خان دغه پېسې قبول نه کړې. (۱۳-مخونه ۵۲-۵۷ )

په ( ۱۸۹۲ز یا ۱۲۲۷ ل ) کال کې د هلمند سیند د خپلې اصلي تګلارې ( نادعلي سیند ) څخه چې د افغانستان او ایران تر منځ سرحد و ، واوښتو او په پایله کې یې د اوبو ډېره برخه د یوې بلې تګلارې چې د پریان سیند په نامه یادیږي دنادعلي سیند په لویدیځ کې موقعیت لري ولاړې.

دا چې د ګولډ سمت(Gold Smith )په وخت کې سرحد د ځمکې پر مخ په نښه شوې و ، نو ځکه خو دهلمند سیند د تګلارې بدلون یو ځل بیا د افغانستان او ایران تر منځ حالات ترینګلي کړل ، د ایران او افغانستان دواړو هیوادونو یو ځل بیا د انګلیستان (England) څخه پدې اړوند کومک غوښتنه وکړه ، د انګلیستان حکومت مکمهان(Mac Mahan) د (۱۵۰۰) انګلیسي او هندي افسرانو په ملتیا ددې کارلپاره راولېږل.

د افغانستان د استازي مشر محمد فقیر خان او د ایران د استازي مشر یمین النظام نومیدو ، ددې درې واړو هیوادونو استازي په ټولو تحقیقاتي وسایلو سمبال وو. دوه کاله او درې میاشتې یعنې له(۱۹۰۲-۱۹۰۵ز یا ۱۲۸۰-۱۲۸۲ل ل ) په تحقیق او څېړنو لګیا وو. په پایله کې یې سرحدي کرښه د کوه ملک سیاه چې د افغانستان په جنوب لویدیځه زاویه کې پروت دی او د سیاه کوه چې دهلمند د هامون په شمال غربي برخه کې موقعیت لري تر منځ وټاکل شو چې ۳۵۰ کیلو متره اوږدوالې لري. (۱۰ مخونه ۲۹-۳۰ )

دغه سرحدي کرښه چې د دواړو هیوادونو ترمنځ یوه لانجمنه کرښه ده او د انګلیستان د هیواد په منځګړیتوب تعین شوې د یوې مصنوعي سرحدي کرښې بڼه لري.

د ایران (Iran) او افغانستان(Afghanistan) تر منځ دا ډول ستونزې په سهیل لودیدیځه برخه کې یو ځل بیا په (۱۹۵۱ز ،۱۳۲۳ل ل ) هغه مهال رامنځته شوې کله چې د افغانستان حکومت د هلمند او ارغنداب په پراختیایي پروژو پیل وکړ. د ایران دولت دا موضوع بهانه وګرځوله ، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته یې د اوبو د کمښت شکایت وکړو چې په پایله کې د امریکا متحده ایالات (USA) منځګړیتوب لپاره راوړاندې شو چې بالاخره د ایراني ،افغاني او امریکا متحده ایالاتو د استازو تر منځ په واشنګټن(Washington ) کې خبرې اترې پیل شوې ، د امریکا متحده ایالاتو دا وړاندیز وکړ چې یو فني کمیسون دې جوړ شي تر څو موضوع په هماغه ځای کې له نژدې وڅېړي او وروسته خپله پرېکړه دواړو هیوادونو ته واوروي.

دغو فني متخصصن چې د امریکا د لوې وچې د ریو بېلا بېلو هیـــوادونو (د امریکا متحده ایالاتو USA ، کاناډا Canada او چیلي Chili ) د معتبرو پوهنتونونو څخه وو ،د هلمند پراختیایي پروژه یې له نژدې ولیده او د ګولډ سمت

(G. Smith) او مکمهان(Mac Mahan) تاریخي اسنادیې له سره وڅېړل ، بالاخره دا رنګه نظر یې څرګند کړو چې د هلمند د پروژې بندونه او نهرونه د اوبو دکلنۍ ډېریدنې پر مهال د سیلابونو د کنترول لپاره جوړ شوي او یا د ې شوې پروژې د بند اوبه نه دي کمې کړي او سربېره پر دې د اوبو کلنۍ بهیر د کال په اوږدو کې یوه اندازه ساتي. په همدې توګه دایران دا ادعا چې افغانستان د سیند اوبه د ایران په سهیل ختیځو خلکو بند وي ناسمه وګڼله. زیاته یې کړه چې دهلمند سیند یو ملي(افغاني) سیند دی نه نړیوال سیند او دا یادونه وشوه چې د ایران جنوب ختیځو خلکو حق دې د کال په اوږدو کې په هره میاشت کې وټاکل شي.

د افغانستان هیواد په (۱۳۲۱ل ل ) کې د دې درې طبقه ي کمیسون نظریات او پریکړې ومنلې او د ایران دولت ته یې د کمیسون د نظریاتو پر بنسټ د خبرو کولو خبر ورکړ، خو د ایران دولت په هغه وخت کې د کمیسون پریکړې او ګذارشونه ونه منل چې بالاخره په (۱۹۲۷ز ( ۱۳۴۷ل ل ) ) کې دواړو هیوادونو د صدر اعظمانو تر منځ خبرې پیل شوې چې تر ډېره یې دوام وکړ. بالاخره دا مسئله لا منحله باقي پاتې شوه (۱۰ –مخونه ۳۰-۳۱ )

د سیستان د سیمې او د هلمند د اوبو تاریخي سوابق:

د تاریخ په اوږدو کې ا یران لومړی د افغاني سیستان پر ځمکو دعوه وکړه او کله چې دوی د انګریزانو په مرسته په سیستان کې د ځمکو خاوندان شول نو بیا یې د هلمند د رود په اوبو کې د حق خبره راپورته کړه. په تېرو کلونو کې ایران څو ځلې د هلمند د اوبو په اړوند د افغاني مقاماتو سره خبرې کړې وې او څو ځله یې د افغانستان سره معاهدې لاسلیک کړې وې ولې هر وار په کړو معاهدو پښېمان شوي دي او نور امتیازات یې لاس ته راوړي وو.

د سیستان سیمه دخپل لرغوني روښانه تاریخي سوابقو له مخې د افغانستان یو مهم ولایت دی ، څرنګه چې دغه سیمه د افغانستان ، ایران او بلوچستان د یو ځای کېدو په سیمه کې پرته ده نو په نولسمې پیړۍ کې دغه سیمه د روسي او انګریزي استعمارګرانو د توجو وړ وګرځیده. په (۱۸۲۲ز ) کې ایرانیانو د سیتسان ولایت ته لاس اوږد کړ چې د دواړو هیوادو ترمنځ سختو جګړو زیږنده شو.

د هغه ترون په بنسټ چې په (۱۸۵۷ز) کال کې د ایران د دولت انګریزانو سره کړی و ، یو ځل بیا یې د افغانستان او ایران ترمنځ د اختلافاتو د حل لپاره ځانونه د حاکم په حیث تعین کړل. انګریزانو په (۱۸۷۲ز) کې د ګولډ سمیت په مشرۍ حاکم هیات وټاکلو چې د افغانستان له خوا سید نور محمد شاه او د ایران له خوا میرزا معصوم د هیوادونو نماینده ګي کوله ، ګولډ سمیت د (۱۸۷۲ز) کال د اګست د میاشتې په ۱۷ مه خپله فیصله اعلان کړه چې یوه برخه یې دا سې وه.

په دې کې شک نشته چې په تېرو ۱۰۸ کلونو کې سیستان په ټوله معنا د افغانستان د خاورې یوه برخه وه ، البته په ډېرو پخوا وختونو کې سیستان د ایران د خاورې یوه برخه هم وه ، په اوسني عصر کې د دواړو هیوادونو ادعاګانې په نظر کې ونیول شي او د دواړو هیوادونو ملکیت باید تثبیت کړای شي ، ګولډ سمیت د سیستان هغه اباده سیمه چې دریو خواو ته یې د هامون جهیل واقع دی او څلورمې خواته یې د هلمند رود بهیږي او یوې ټاپو وزمې شکل لري او د سیستان د سیمې ډېر نفوس هلته استوګن و ایران ته ورکړه او د چخانسور کم نفوسه برخه او د هلمند د پورته غاړې ځمکې ، د سیستان دښتې ، د هلمند د رود دواړه خواوې د کوهک تر بند پورې افغانستان ته پاتې شوې.

سید نور محمد شاه د ګولډ سمیت پر دغې پرېکړې باندې اعتراض وکړو ولې کومه پایله یې ونه لرله.

د سیستان لانجه پر دغه ځای پای ته ونه رسیده ، د هلمند رود چې پخوا د ناد علي تر څنګ تېریدو په (۱۸۹۲ز) کال کې د سختو سیلابونو په وجه خپله مجرا بدله کړه او د (پریانو) په نامه په نوي مجرا کې یې بهیدل پیل کړل چې تر دې وروسته د اوبو ویش د افغانستان او ایران ترمنځ د اختلاف ټکې شو.

د ایران د پاچا په غوښتنه او د افغانستان د پاچا په موافقه د انګریزانو یو بل حکم هئیت د (سرهنري مکماهن) په مشرۍ د دغه اختلاف د حل لپاره وټاکل شو. مکماهن د (۱۹۰۳ز) د جنورۍ په میاشت کې سیستان ته ورغې او په دوه کاله او درې میاشتو کې یې د دغه ځای د ټولو ځمکو د مساحت محاسبه وکړه او پایله یې داسې اعلان کړه.

د سیستان اوسنۍ ځمکه (۷۰۰۰) مربع میله ده چې له دې جملې څخه (۴۱۵۳) مربع میله ځمکه د افغانستان په لاس کې ده او نوره پاتې (۲۸۴۷) مربع میله ځمکه د

ایران پـه واک کـې ده. زیاتـه یـې کـړه پـه حاضـر وخت کـې د هلمنـد رود پـه درې برخـو ویشل شوی دی.
۱- د سیستان رود چې د کوهک لـه بند څخه جلا کېږي او د یرانـي سیسـتان ځمکـې خړوبوي.
۲- د هلمند لوی رود.
۳- د ناد علي ویاله چې پخوا د هلمند د رود اصلي بستر و.
په (۱۸۷۲ز) کې د ګولډ سمیت حاکمیت په وخت کې د هلمند د رود په یو شاخ کې چې د سیستان د رود په نامه یادیږي کافي اوبه موجودې وی او د کوهک بند تـه ډېرې اوبه رسیدې چې دا اوبه تر ناد علي تېریدې او هامون جهیل تـه توئیدې ولـې د (۱۸۹۲ز) کال سیلابونه ددې باعث شول چې دغه رود ځان تـه یـوه بـل بسـتر جوړ کـړي چې د بریان په نامه یادیده، ددغې سیمې په جوړېدو د افغانستان او ایران تر منځ د اوبو پر ویش ناندرې بیا پیدا شوې.
په (۱۹۰۵ز) کې مکمهان د اوبو د ویش په برخه کې خپله فیصله صادر کړه چې یوه ماده یې دارنګه وه.
د هلمند د رود هغه اندازه اوبـه چې د کوهک بند تـه رسیږي دربیمـه برخـه یـې باید ایران ته ورکړل شي، یعنې کـه افغانسـتان د هلمنـد د درود پـه پورتـه برخـه کـې د اوبو بندونه جوړوي باید دغه حساب په نظر کې ونیول شي.
پـه دې ترتیب د (۱۸۷۲ز) کـال څخـه بیـا تـر (۱۹۰۵ز) کـال پـورې یعنـې د ۲۳ کلونـو پـه مـوده کـې د انګریزانـو د حاکمیـت لـه مخـې د هلمنـد د رود د اوبـو دربیمـه برخـه او د سیستان له ځمکو څخه تر دریمې ډېره برخه ایران ته ورکړل شوه.
د هلمند د اوبو تړون د موسی شفیق صدارت پـه وخت کـې هغـه مهـال چـې پـه ایران کې امیر عباس هویدا لومړی وزیر و د کابل پـه ښار کـې د (۱۳۵۱ل) کـال د حوت پـه ۲۲ مه یا د ۱۹۷۳ز کال د مارچ په ۱۳مـه نېټـه لاسلیک شو. دغـه معاهـده د ۱۹۷۳ز کال د مئ پـه ۲۲ مه د ولسي جرګې په عمومي مجلس کې پـه لـوي اکثریت پـه تصـویب ورسـیده چـې د ولسـي جرګـې د ۲۱۲ غـړو څخـه د حاضـرو ۱۵۳ وکیلانـو څخـه ۱۲۷ وکیلانو د معاهدې په تایید رایه ورکړه او ۲۵ وکیلانـو مخـالفې رایـې ورکـړې او یـوه

تـن ممتنـع رايـه ورکـړه. دغـه معاهـده پـه مشـرانو جرګـه کـې هـم تصـويب شـوه او د افغانستان پاچا توشيح کړې ده. [1] ( مخونه۲۷_۲۹ )

## شمال ختيځ سرحد:

د پامير او واخان کم سوري (کم عرضـه ) سيمه چې نسبتاً يـوه لوړه ځمکه ده يعنې هغه سيمه چې د آمو او سند سيندونو ته دخپلو دايمي يخچالونو دويلې کيدو له مخې د اوبو سرچينې جوړوي دغـه نرۍ افغـاني سـيمه چې د هغـه وخت د شـوروي اتحـاد ،چين او د هغـه وخـت برتـانوي هنـد سـره يـې ګـډه پولـه درلـوده د کلتـوري او جغرافيايي ځانګړتياو په تېره له سياسي پلوه د ډېرې پاملرنې او ارزښت وړ سيمه وه. نو ځکه د دغې سيمې د سرحد ټاکنه د ډېرو کلونو راپديخوا تر غور لاندې وه.

په (۱۸۷۳ز ) او همدارنګه په (۱۸۸۷ز ) کلونو کې هغه مهال چې د افغانستان سرحدونه ټاکل کيدل نو د شمال ختيځو سرحدونو په برخه کې خبرې وشوې ،مګر د امو سيند د سرچينې په نه موندلو سره پدې اړوند ستونزې وزيږېدې. ځکه د ځينو پـه آند د آمو سيند سرچينه زرکول (ويکتوريا ) او د ځينو پـه آنـد د آموسيند سر چينـه د چقمقتين جهيل وه. ځکه خونه يواځې د سرچينې د پيدا کيدو مسئله، بلکې د همدې سرحدي کرښې تطبيق او تر سيم هم ډېر اړين بريښېده.

پـه (۱۸۹۵ز ۱۲۷۲ل ل ) د دريـو هيوادونـو استازي چې هـر يـو يـې غـلام محـى الـدين خـان ، دهغـه مهـال د قطغـن او بدخشـان حکمـران ، ميجـر جرلـو Major Gerlow د انګليســي اســتازي رئــيس او فيفروشــوا يکوويســي Fifiroshu Ikowisky د چين د ولسي جمهوريت استازى د کوچني اولوي پامير پـه سيمه کې په خبرو پيل وکړ چې خبرې يې تـر نهـو مياشـتو اوږدې شـوې ، پـه پايله کې د پـامير سرحد د افغانستان او تزاري روسيې او شمال ختيځه سرحدي کرښـه د افغانسـتان او چين تر منځ سرحدو ټاکل شو چې ۹۲ کيلو متره اوږدوالى لري. (۱۱- مخونه ۳۲-۳۳ )

دغـه سـرحدي کرښـه پـه ځينـو سـيمو کـې پـه طبعـي او پـه ځينـو ځـايونو کـې د پيلرونو په وسيله ټاکل شوې ، څرنګه چې دغه سرحدي کرښه د دواړو هيوادونو لخوا منل شوې نو يوه ديجوري Dejure کرښه ګڼل کېږي.

[1] افغانستان د ديموکراسۍ او جمهوريت په کلونو کې (۱۹۲۳-۱۹۷۸ز). ليکوال عبدالغفار قراهي

## د افغانستان ختیځ او جنوبي سرحد:

هغه مهال چې احمد شاه بابا ددې هیواد د واکمن په حیث وټاکل شو نو د خپلې پوهې او تدبیر په وسیله یې وکړای شول چې د اریانا اصلي خاورې پراختیا بیا رامنځته کړي. هغه د خپل ۲۵ کلن سلطنت په دوره کې وکړای شول چې د افغانستان سرحدونه د اریانا د وخت اصلي سرحدونو ته ورسوي او د چارو د اداري او نظم لپاره یې هیواد په اتو ولایتونو (کندهار، هرات، کابل، مزار شریف، خراسان، بدخشان، پنجاب(لاهور او کشمیر) او پنځلسو اعلی حکومتونو (فراه، میمنه ، بلوچستان، غزني ،لغمان، پېښور، ډېره اسماعیل خان، ډېره غازي خان، شکارپور، سوی، سند، چچه هزاره، لیه، ملتان او سرهند) وویشلو.

له احمد شاه بابا څخه وروسته د هغه زوی تیمور شاه او بیا له ده څخه وروسته دده زوی زمانشاه د احمد شاه بابا د سرحدونو څخه ساتنه وکړه، خو د شاه محمود (د تیمور شاه) د زوی په راتګ سره د ورونو تر منځ داخلي نفاق له یوې خوا او د بارکزیو او سدوزیو تر منځ دښمني له بلې خوا د پردیو د سیاست د پراختیا لپاره زمینه جوړه کړه ،هغه مهال چې امیر یعقوب خان واکمن شو له لومړۍ ورځې څخه یې د ځان او هیواد واک انګلیسانو ته وسپارل او د تاج و تخت د ساتلو لپاره یې د انګلیسانو سره موافقه وکړه او د ګندمک کرغېړن تړون یې په (۲۲ مې ۱۸۷۹ز) کې په (۱۲) دولسو مادو کې لاسلیک کړ. (۱۰ – مخونه ۲۳-۲۴)

## د ګندمک تړون

(د یعقوب خان او د انګلیسي نماینده ګانو تر منځ د افغانستان د ختیځو ولایتونو د ویشنې تړون):

دغه دوره په (۱۲۹۰ ل س) د افغانستان په تاریخ کې د فتنو دوره وه. دغه مهال کې د امیر شیرعلي خان اړیکې د برتانوي هند سره سختې خړې پړې وې سر بېره پر دې چې افغاني صدر اعظم سید نور محمد شاه په ډېرو کانفرانسونو لکه شملې او پېښور کې د انګلیسي استازو سره خبرې اترې وکړې او د یو پرتمن او ابرو مند تړون

د غوټه کولو غوښتونکی و ، ولې بیا هم دا خره پره وضعه ختمه نه شوه ، بالاخره روسانو خیوا ونیوله او یو تن سفیر یې د جنرال ستیلانوف په نوم کابل ته راولېږه. دهند برتانوي دولت له دې وضعې څخه سخت په ویره کې و او د وړاندې تګ پالیسي یې په افغانستان کې عملي کړه. په (۲۰ نومبر ۱۸۷۸ ز ) کال کې د خیبر ، کرم او بولان له لارو یې په وسلو سمبالو عسکرو په افغانستان حملې وکړې ، امیر شیرعلي خان له کابل څخه مزار ته ولاړ او هماغلته په ( ۲۹ صفر ۱۲۹۲ ل س یا ۱۸۷۹ ز ) کې ومړ او دهغه په ځای د هغه زوی امیر زاده یعقوب خان په کابل کې دهغه ځای ناستی شو چې د ټول هیواد قانوني بادشاه نه و. دغه مهال چې یو اضطراري حالت و نوموړی د افغانستان ختیځ د ګندمک* سیمې ته چې د انګلیسانو د لښکرو قرار ګاه وه ویوړل شو او د ګندمک شر میدلی تړون پرې لاسلیک شو . ( ۲۲ مئی ۱۸۷۹ ز یا ۴ جمادی الثانی ۱۲۹۲ ل س )

ددې پېښې یو څو میاشتې وروسته د افغانستان ملت پر نوموړي امیر ،دده په ملګرو ، لښکرو او انګلیسانو باندې شورش جوړکړ چې په پایله کې امیر هند ته فرار وکړو ، نو بنا پر دې ذکر شوی تړون حقوقي اعتبار نه لري. ولې د افغانستان په تاریخ کې یو سیاسي داغ دی. ددې تړون ترتیبوونکی سر لویس کیوناری و چې څو میاشتې وروسته د کابل په بالاحصار کې د افغانانو لخوا دغچ اخیستنې په وجه په اور کې وسوځیدو. (۳ – مخونه ۵۲ – ۵۳ )

## د ګندمک د تړون نهمه ماده:

ددې لپاره چې د دواړو هیوادونو تر منځ دوستي پاینښت ولري او برتانوي عسکر په ډاډ منه توګه د افغانستان له خاورې ووځي د سیالکوټ ولایت او فوشنګ علاقه د کوړک تر غره پورې ، د کرم علاقه د جاجي تر سرحد پورې ، هفت چاه د شرقي څنډو او لنډي کوتل پورې دې انګریزانو ته ورکړل شي ، مګر د دریو علاقو ( کرم ، پشین او سیبي ) واګذاري به دایمي او قطعي ډول نه وي. داسیمه به د هغو ځمکو په نامه ( چې امانت سپارل شوي دي ) یا دې کړو او بیا به افغانانو ته مسترد دې

* ګندمک د ننګرهار ولایت د شیرزادو د ولسوالۍ یوه قریه ده چېرته چې د امیر یعقوب خان او انګلیسانو تر منځ تړون لاسلیک شوی و

شي. ددغو سيمو ماليه به د مصارفو دوضع کولو وروسته افغانستان ته ورکول کېږي سربېره پردې د برتانيې دولت به د خيبر او ميچنې اداره او نظم افغانانو ته سپاري.(۷- مخ۱۲۴)

هغه مهال چې امير عبدالرحمن خان قدرت ته ورسيدو کوښښ يې وکړو تر څو د افغانستان جنوبي او ختيځ سرحدونه د ځمکې پر مخ تثبيت او وټاکي په همدې موخه دهند د ويسراى سره يې د سرحدي کرښو په اړوند خبرې پيل کړې. دهند ويسراى چې سياسي موخه او خراب نظر يې درلود، تر ټولو لومړى يې د سرحدونو په ټاکلو کې حالات په خپله ګټه راواړول او خپلې قواوې يې په سرحدونو کې د تيارسې په حال کې کړې او د بانديني چارو سکرتر مورتيمر ديورنډ يې د لاندې ذکر شوي هئيت سره افغانستان ته راولېږل. پدغه سفر کې د ديورنډ سره دغه شپږ لوړ پوړي غړي شامل وو، سفير مستر ديورنډ (Durand) او سياسي مرستيالان کپتن مکماهن(Mac Mahan ) او کپتن مانرس سمت(Manners Smith ) ، مستر کلارک(Clarke) ، مستر دونالد (Donald) ،طبيب ميجر فن(Fenn) او نظامي متخصص کلنل اليس(Elis).

دې هئيت ته په کابل کې ښه راغلاست وويل شو او د جنرال غلام حيدر زمان لخوا ورته په هغه قصر کې کوم چې د شهزاده حبيب الله د استوګنې ځاى و، ځاى ورکړل شو. له لومړنيو ليدنو کتنو وروسته د لاردلانسدون د استازي مارتيمر ديورنډ (Durand) لخوا په (۱۱ نومبر ۱۸۹۳ ز) لاندې ليک امير عبدالرحمن خان ته وړاندې شو.

((کله چې تاسې والا حضرت د افغانستان پرتخت کېناستى نو سر لېپل ګريفن ته هدايت ورکړل شو چې تاسې ته ډاډ درکړي چې هيڅ بيرونى قوې ته به د افغانستان په داخلي چارو کې د لاس وهلو وخت ورنه کړل شي او که چېرته چا د ستاسې والا حضرت په تصرفاتو کې تېرى وکړ نو د برتانې حکومت به څنګه چې لازمه وي ستاسې مرسته وکړي ،خو دا پدې شرط چې والا حضرت به په ټولو بانديني چارو کې د برتانې د دولت مشوره د قيد او شرط پرته مني. اوس هم وياړم تاسې والا حضرت ته خبر درکړم چې

په ټولو هغو ځمکو او د امو په سرحدونو چې د ستاسې د موافقې په بنسټ مونږ خبريو ، ستاسې مرسته به کوو.

د برتانې دولت هيله مند دی چې د افغانستان د شمالي سرحدونو ټولې هغه برخې چې په هغې کې تر اوسه پورې سرحدي نښې نه دي نصب شوي په څرګنده توګه بايد تعين شي او د ستاسې والا حضرت د ملک ټول سرحدونه د روسې په مقابل کې د شک او ابهام پرته به روښانه او څرګند وي)). (۳ –مخونه ۱۲۹-۱۷۰)

له دې ليک وروسته د معاهدې مواد چې پخوا ترتيب شوي وو د يوې نقشې سره يو ځای امير عبدالرحمن ته راوړل شول او د امير عبدالرحمن خان ته وويل شو چې يا به دا تړون لاسليک کوې او کنه نو د دواړو هيوادونو اړيکې به پرې کېږي. هماغه و چې امير د حالاتو د خرېړتيا او ديو لړ بيروني او داخلي لاملونو پر بنا د دې سختې ازموينې څخه بريالی راونه ووت او د ځينو په آند امير له مشورې پر ته يې دا تړون جبراً لاسليک کړ.

د ډيورند کرښه چې له واخان او چترال څخه تر بلوچستان پورې وتاکل شوه د چمن ، پشين ، وزيرستان ، کرم ،باړه چينار ، اپريدي ، باجوړ ، سوات ، چترال سيمې د افغانستان له خاورې څخه بېلې او برتانوي هند پورې ونښتې.

همدرانګه پربکړه وشوه چې د روشان او شغنان(د امو د سيند په پاسنۍ برخه کې ) سيمې چې د افغانستان په تصرف کې وې د لارډ ګـــــــــــــرانويل Prince Garchakove Lard Granville د پربکړې په اساس تزاري روسې ته ببرته ورکړل شي او په مقابل کې يې واخان او اسمار افغانستان ته ورکړل شول.(۱۱- مخونه ۲۵-۲۲ )

د ډيورنډ د کرښې تړون:

د برتانوي هند باندينيو چارو وزير Sir Henry Martimer Durand* د يو هئيت په مشرۍ د ۱۸۹۳ز د اکتوبر په دوهمه نېټه کابل ته ورسيد. انګريزانو

* Sir Henry Martimer Durand په ۱۴ فبروري ۱۸۵۰ کې زيږېدلی د Sir H.M. General Mejor Durand ځوی دی ، په ۱۸۷۳ ز کال په بنګال کې دنده وه او په ۱۸۷۹ز کال په کابل کې د رابرتس سياسي سکرتر و ، د ۱۸۸۴- - ۱۸۹۴ز پورې د هند د حکومت د باندينيو امورو سکرتر و ، وروسته بيا په ايران ، مادريد او واشنګټن کې د امريکا سفير و (۳- مخ ۲۳)

دمخه تر دې چې د ډیورنډ تړون په اړه د افغاني مقاماتو سره خبرې وکړي دوی د افغانستان په سرحدونو کې وضعه په خپله ګټه محسوسه کړه. دوی په سرحدي سیمو کې د قومونو تر منځ د خونړیو جګړو اور ته لمن وهله. انګریزانو د توري قوم یوه قبیله دې ته تشویق کړه چې دنورو قومونو په ځمکو کې یوه لویه ویاله وکېندي چې دغه کار د هغه ځای د قومونو تر منځ لوي اختلاف پیدا کړو چې مقابل لوری دخپل حق د دفاع لپاره راپاڅیدا ویوه لویه خونړۍ جګړه پیل شوه.

په ختیځو سیمو کې انګریزانو اعلانونه خواره کړل، پدې اعلانونو کې دوی خپلو سرحدي معاش خورو ته لیکلي وو چې دهغه چا معاش به دوه برابره شي څوک چې د انګریزانو دولت ته خپل اطاعت لیک ورانديې کړي. هغه وخت چې امیر عبدالرحمن خان دغه اعلانونه ولوستل نو په ننګرهار کې یې خپل سپاه سالار غلام حیدر خان ته ولیکل. ((که چېرته انګریزانو د هیلو فریب او په مسلمانانو کې د پېسو د خپرولو کار نه کولی نو نه یې شو کولی چې دهند اسلامي هیواد ونیسي. د سند د سیند څخه چې د افغانستان ذاتي سرحد دی راتېر شي، پېښور، دیره جات او سند ونیسي او د افغانستان ځمکې تقسیم کړي.))

همدرانګه دننګرهار په سرحد کې هم انګریزانو خلک تحریک کړل چې د میچنۍ په سیمه کې یوه ویاله وکاږي او دهغه ځای وګړو تر منځ دښمني پېدا کړي. انګریزانو همېشه هڅه کوله چې د خپلو اجیرانو په وسیله د ډیورند د کرښې په دواړو غاړو کې ګډوډي جوړه کړي او امیر عبدالرحمن دې ته مجبور کړي چې د یو لوري څخه دفاع وکړي (لکه پخوا چې کوم جنګ د شینوارو او اتمانزو ترمنځ پېښ شوی و امیر عبدالرحمن د سرحد د پورې خوا په تېری کوونکو باندې هجوم وروړ) او بل لورې ته به انګریزانو پېسې او وسلې ورکولې چې په پایله کې به د خپلو ورونو تر منځ جګړه او دښمني پیدا کړي.

افغانستان ته د ډیورند د راتګ په اړه میر غلام محمد غبار لیکي چې دیورند د شپږو نفرو افسرانو، ۴۲۳ بار وړونکو حیواناتو، او د ۳۲۴ عمله کسانو سره یو ځای د خیبر له لارې افغانستان ته داخل شو او وروسته کابل ته ورسیدو. هغه ته په بګرامیو کې د یو تن کرنیل او دیوسواره ټولي لخوا هر کلی وویل شو او د چهلستون په قصر کې ورته ځای ورکړل شو. په همغه شپه شهزاده حبیب الله خان ورته میلمستیا وکړه او یوه ورځ وروسته د حشمت خان په باغ کې امیر عبدالرحمن خان ته

وړاندې شو. له لنډې پيژندې وروسته په راتلونکو نورو ورځو کې ورته د خبرو په موخه د ويلو اجازه ورکړل شوه.

دې راغلي هئيت په کابل کې ۴۰ ورځې تېرې کړې او غېر دوستانه خبرې په چټکۍ سره رواني وې، پداسې حال کې چې انګليسي لښکرې هم د افغانستان په سرحد کې د تيارسۍ په حال کې وې، د انګريزانو وړانديز په دې ډول لنډ وويل شو، يا خو دې انګليسانو پريکړه او نقشه لاسليک شي او يا خو به د دواړو هيوادونو تر منځ اړيکې شلېږي چې پايله به يې په جنګ تمامه شي او دربيمې خبرې ته پکې ځای نه و، هماغه و چې امير مجبوراً د هغو غوښتنې ومنلې. (۱۲-مخونه ۲۸۷-۲۸۸)

ديورند د خپلو خاطراتو په کتاب کې ليکي چې ((د هند برتانوي استازي دنده درلوده چې امير عبدالرحمن خان دې ته تشويق کړي چې خپل عسکر د (روشان) او (شغنان) د سيمو څخه چې د بخارا يوه برخه ده او په ۱۸۹۳ ز کې روسانو ته ورکړل شوې ده وباسي. او همدې استازي دنده درلوده چې د امير عبدالرحمن خان هغه خوا بدې چې د کوړک د غره تونل او په نوي چمن کې د ريل کرښې په جوړولو يې ښکاره کړې وه له منځه يوسي. د انګريزي استازي اصلي موخه د هند د شمال غربي سرحد يعنی د ډيورنډ د کرښې تثبيت و.))

ديورنډ دخپل سفر په اړوند ليکي ((مونږ د ۱۸۹۳ز کال د سپتمبر د مياشتې په نيمايي کې د پېښور څخه حرکت وکړ او زمونږ هيات په پېښور کې د سپاه سالار غلام حيدر خان لخوا په تود هرکلي ويارلی شو. د جلال آباد، جګدلک او لته بند له لارې کابل ته ورسيدو او په (اندکي) کې چې د بابر دمقبرې او د چهلستون د قصر ترمنځ واقع و، ځای په ځای شو، په کابل کې د اوسيدو پر مهال زمونږ تشويش و چې که په دغه وخت کې امير عبدالرحمن مړ شي او يا ووژل شي نو يقيناً مونږ به هم د کيوناري او دده د ملګرو په سر نوشت اخته شو.))

نوموړی زياتوي ((په کابل کې خبرې اترې ډېر سستې وې، د امير د اسلحه جوړلو ماهر (Mr. Pyne) چې امير ته ډېر نژدې و، زمونږ سره ډېره مرسته وکړه، نوموړي به تل امير ته مشوره ورکوله چې دی بايد د انګريزي استازي خبره ومني))

نوموړی بيا ليکي ((يوه ورځ ما د مستر پاين Mr. Pyne څخه وپوښتل چې (ولې امير د سرحد په موافقه باندې ژر تصميم نه نيسي. ده راته په ځواب کې وويل چې امير غوره تصميمونه د يکشنبو په ورځو کې نيسي.

د مستر پاین Mr. Pyne خبره رښتیا وه چې د ډیورنډ کرښې ورځې وروسته امیر په یوه یکشنبه کې د پریکړه لیک منلو ته تیار شو. )) ( سایکس برسي. د ډیورنډ بیو ګرافي ) ( ۴،۱-انټرنټ)

د ډیورنډ د توافق لیک پښتو متن:

په داسې حال کې چې د هندوستان په خوا کې د افغانستان د سرحدي سیمې په هکله ځینې مسئلې رامنځته شوې او دواړه اعلیحضرت امیر او د هندوستان حکومت هیله من دی چې د غه مسئلې د دوستۍ په فهم او د دواړو د نفوذ د ساحو د حد په ټاکلو سره حل کړي تر څو په اینده کې د دغو متحدو حکومتونو تر منځ د دغې موضوع پر سر د نظر اختلاف نه وي پدې وسیله په لاندې توګه موافقه وشوه.

۱-د والا حضرت د توابعو ختیځه او سهیلي سیمه دې له واخان څخه د پارس تر پولې پورې دې هغه لیکه تعقیب کړي چې په هغې نقشې باندې ښودل شوې چې له دغه توافق لیک سره مله ده.

۲-د هندوستان حکومت به هیڅ وخت په هغو سیمو کې چې له دغې لیکې څخه اخوا د افغانستان په لور پرتې دي مداخله ونه کړي او والا حضرت امیر به هیڅ وخت په هغو سیمو کې چې له لیکې څخه اخوا د هندوستان په لور پرتې دي مداخله ونه کړي.

۳-د برتانې حکومت په دې ډول موافقه کوي چې والا حضرت امیر دې اسمار او تر چاناک پورې پورته ساحه وساتي. د بلې خوا والا حضرت موافقه کوي چې دی به هیڅ وخت په سوات، باجوړ یا په چترال کې د با شکل یا ارنوای درې په شمول مداخله نه کوي.

د برتانې حکومت داسې موافقه هم کوي چې والا حضرت دې د برمل سیمه ولري، کومه چې په هغه مفصله نقشه کې ښودل شوې چې والا حضرت ته لا دمخه سپارل شوې ده او والا حضرت دې د پاتې وزیرستان او د داور په هکله له خپلې ادعا څخه تېرېږي، په همدې توګه والا حضرت دې د چاغې په هکله له خپلې ادعا څخه واوړي.

۴- د سرحدي سیمې لیکه به د افغان او برتانوي ګډو کمشنرانو له خوا له دې وروسته په تفصیل سره وکارل شي او حد بندي به شي په کوم ځای کې چې د تطبیق

وړ او مطلوب وي ، ددغو کمشنرانو موخه به داوي چې د سرحد په ټاکلو کې متقابل فهم ته سره ورسیږي ، داسې چې دغه لیکه دې تر نهایي امکان پورې د هغې نقشې له مخې وي چې له دغه توافق لیک سره مل ده ، پداسې حال کې چې ددغې سرحدي سیمې د ګاونډیو کلیو د موجودو محلي حقوقو پوره رعایت وشي.

**۵**-د چمن د موضوع په اړوند والا حضرت د برتانوي نوي قشلې په هکله له خپل اعتراض څخه تیریږي او برتانوي حکومت ته د هغه حقوق پریږدي چې د سرکې تایلري په اوبو کې یې خپله په بیه اخیستې و. د سرحدي سیمې له دغه ټکی څخه به لیکه په لاندې ډول وکاږل شي.

دغه لیکه به پشاکوتل ته نژدې د خواجه عمران غرو له لوړې څخه چې د برتانیې په سیمه کې به پاتې کیږي په هغه لوري کښل کیږي چې مرغه، چمن او د شربو چینه به افغانستان ته پاتې کیږي او د نوي چمن چاونۍ او د افغاني پوستې چې خلک یې لشکر ډنډ بولي تر منځ نیمایي پورې رسیږي. دغه لیکه به بیا د ریلوې سټیشن او د هغې پوستی تر منځ چې دمیان بلاک په نامه یادیږي تر نیمایي پورې رسیږي چې دا کرښه به دجنوب په لوري روانه وي ، خواجه عمران غرونو سره به بیا یو ځای کیږي.

په دې ډول ګواشه پوسته به د برتانې په واک کې او د ګواشې په جنوب او لویدیځ کې د شورا وک سړک به افغانستان ته پریږدي. د برتانې حکومت به ددغه سړک تر نیم میلۍ پورې مداخله نه کوي.

**۶**-ددغه توافق لیک پورته فقرې د هندوستان د حکومت او افغانستان د والا حضرت له خوا د نظر ټول اهم اختلافات چې د سرحدي سیمې په اړوند ددوي تر منځ راپیدا شوي وو د پوره او قناعت بښونکي فیصلې په ډول ګڼل کیږي او د واړه دهندوستان حکومت او والا حضرت به ذمه کوي چې د جزیاتو په اړوند ټول اختلافات لکه هغه چې له دې وروسته به د هغو منصبدارانو له خوا پرې غور کیږي چې د سرحدي کرښې د حد بندۍ لپاره ټاکل کیږي ، د دوستۍ په روحیې سره به فیصله کیږي ، څومره چې ممکنه وي د دواړو حکومتونو تر منځ د شکونو او غلط پوهیدنو سببونه د له منځه یوسي.

۷- د هندوستان حکومت چې د برتانیې حکومت په پرتله د والا حضرت د روغ نیت څخه په پوره ډول ډاډمن شوی او غواړي افغانستان پیاوړی او خپلواک ووینې د والا

حضرت له خوا د جنګي وسايلو رانيولو او واردولو باندي به اعتراض ونه کړي او دوي به پدي اړوند مرسته هم ورسره وکړي. سربېره پردې د دې لپاره چې د والا حضرت د هغې دوستانه روحيى نښه وساتل شي چې په دغو خبرو اتروکې ښودلې ، دهندوستان حکومت ژمنه کوي چې په هغو دولس لکه روپو کې به شپږ لکه نور زياتى راوستل شي چې والا حضرت ته هر کال د مالي مرستې په توګه ورکول کېږي.

هنري مارتيمر ديورند د هندوستان د حکومت د باندنيو چارو وزير امير عبدالرحمن خان د افغانستان او د هند د د توابعو امير کابل د نومبر ۱۲ کال ۱۸۹۳ ميلادي ( **۱۵** )

په همدې توګه د واخان او لنډي کوتل تر منځ سرحد د افغاني هئيت سپه سالار غلام حيدر خان او د انګليسي هئيت ريچارد اودني Rechard Udny په وسيله د ( **۱۸۹۴** - **۱۸۹۵**ز ) کلونو تر منځ وټاکل شو ، ليکن ددې هئيت پرېکړې د مومندو د قومونو سرحدي مسئله حل نه کړه او د بل ځل لپاره افغاني هئيت حبيب الله خان طرزي د افغاني هئيت رئيس او کپتان هى(Capitan Hay ) د انګليسي هئيت رئيس په توګه وټاکل شو . ذکر شوې استازي د سرحدي کرښې موضوع بيا له سره تثبيت او وټاکله ، د وزيرستان د حوزې سرحدي کرښه د کرم او ګومل تر منځ هم د يو بل استازي په وسيله په(**۱۸۹۴**–**۱۸۹۵**ز ) کې تثبيت او ترسيم کړه.

په همدې کال يعنې ( **۱۸۹۴**-**۱۸۹۵**ز ) د افغانستان او انګليستان څخه بل استازى په ترتيب سره ګل محمد خان ا و وروسته بيا محمد عمر خان او مکمهن (Mac Mahan ) د ګومل له درې څخه تر ملک سياه غر پورې سرحدونه تعين او د افغانستان او برتانوي هند تر منځ يې د بېلتون حد وټاکلو.

د افغانستان ختيځ او سهيلي سرحدونه د ګلګت له کوتل (واخجير د کوتل سهيل ختيځ ) څخه تر ملک سياه تر غرونو پورې چې د ډيورند (Durand ) سرحدي کرښې په نوم ياديږي په بېلا بېلو کلونو کې د ځمکې پر مخ تثبيت او ټاکل شوي دي.

د ډيورند کرښه چې له واخان او چترال څخه تر بلوچستان پورې وټاکل شوه د چمن ، پشين ، وزيرستان ، کرم ، پاړه چينار ، افريدي ، باجوړ ، سوات او چترال سيمې د افغانستان له خاورې څخه جلا او برتانوي هند پورې ونښتې. ( ۱۰– مخونه **۲۴**-**۲۵** )

## د ډیورنډ د کرښې تاریخ:

په (۱۸۹۳ز) کال کې انګریزي استعمار پر افغانستان باندې د ډیورنډ کرښه د برتانوي هند او افغانستان تر منځ د افغانستان په زړه کې تحمیل کړه. چې په ملیونونو افغانان له افغانستان د سیاسي ،مدني، بشري قوانینو او له خپل پلرني هیواد څخه په پښتونستان کې محرومه او بې برخې پاتې شول او افغانان ورونه سره بېل کړای شول. ددغې سیمې په کښلو کې دغه سیمې لکه ، د ازادو قبایلو سیمې ، وزیرستان ، خیبر ، پېښور ، کوټه ، سمندري لار ، بنو ، سوات ، چترال او داسې نور ښار ګوټي له افغانستان څخه د یوې مودې لپاره بېل کړای شول.

دغه کرښه چې نژدې ۲۴۳۰ کیلو متره اوږدوالی لري انګریزانو له پېل څخه په دقیقه توګه نه ده ویستلې، دا کرښه د انګریز کلونیل (استعماري) سیستم د ساتلو لپاره په موقته توګه ویستل شوې وه ، دغه کرښه د برلین دیوال ، د سویلي او شمالي کوریاګانو ، د کشمیر بیلوونکي کرښې سره هیڅ نه پرتله کېږي، افغانانو هم له لومړي پېل څخه تر ننه پورې ددغې کرښې قانوني خیال نه دی ساتلی او زمونږ د کوچیانو تګ راتګ په دوامداره توګه پدې کرښې جریان لري.

داسیمې هم هیڅکله د برتانوي هند امپراطورۍ سره تړلي سیمي نه وې. ددې سیمو ټولې په لاس راوړنې او مالیات به تر ډېرې مودې پورې د انګریزانو له خوا د افغانستان شاهي دولت ته ورکول کېدل.

ددغې کرښې تړون د افغانستان امیر عبدالرحمن خان او برتانوي هند د باندینیو چارو وزیر Sir Martimer Durand له خوا په ۱۲ نومبر ۱۸۹۳ز پس له دوو افغان او انګلیس جګړو څخه د انګریز چل او فشار لاندې د لوې لوبې (The Great Game) په ترڅ کې پر امیر عبدالرحمن خان باندې ور وتپل شو. افغانستان مجبور کړای شو چې یوائې دغه کرښه د نړۍ په نقشه کې په موقتي توګه ومني.

د افغانستان په شمال کې روسي ځواکونه دیرغل په حالت کې ولاړ وو. روسانو او انګریزانو دنړۍ نیولو او ویشلو تجربو سره په افغان پولو د تیارسۍ په حالت کې وو. روسان او انګریزان د افغانستان له ستراتیژیکي موقعیت څخه پوره

خبر وو ، د لوی لوبې دواړه خواوې په دې پوهېدې چې په یوائې توګه ټول افغان ولس نشي کنترولولی.

په (۱۸۷۹ز) کال د برلین په کنګره کې د سمارک په مشری روسانو او انګریزانو خپلو ټولو خپل منځني اختلافاتو ، زبر ځواکیو او سیالیو ته د پای ټکی کېښود. د انګریزانو په پریکړه د افغانستان نیمایي به انګریز او نیمایي برخې به روسان کنترول کړي. دا به د دواړو سیالیو امپریالستي هیوادونو په ګټه وي او هم به د افغانانو خاوره د دوي تر منځ یوه بېلوونکې سیمه (Buffer State) اعلان شي. (۱۲)

## د ډیورنډ کرښې په اړوند ځینې تاریخي پېښې

د ډیورنډ د کرښې په یوې خوا کې:

۱– په (۱۸۳۲ز) کال کې امیر دوست محمد خان د افغاني ښار پېښور د نیولو لپاره د امیر المئومنین لقب وګټلو ، د پنجاب سیکانو په ضد یې د جهاد اعلان وکړ ، د خیبر په دره کې د افغان غازیانو او سیکانو په منځ کې جګړه وشوه.

۲ - همدې کال د امیر سوله ایز وړاندیز برتانوي هند ته اوله روسانو څخه مرسته چې په سیکانو فشار راولي تر څو پېښور افغانستان ته بېرته ورکړي په لومړي سر کې انګریزانو هم دغه خبره منلې وه.

۳ - په (۱۸۳۵ز) کې وزیر اکبر خان د پېښور بیا نیولو لپاره د پلار له اجازې څخه پرته لښکرې پنجاب ته واستولې خو بری یې ونه موند.

۴– په (۱۹۱۹ز) کال کې شاه امان الله خان او دهغه د باندینیو چارو وزیر محمود طرزي مجبور شول چې د افغانستان دلوې برخې د خپلواکۍ اعلان وکړي ، دا مهال په سیمه کې ټول هیوادونه د روس او یا د انګریزانو د استعمار او ولکې لاندې وو. غازي امان لله خان چې انګریزي کافر پوځ یې له افغان اسلامي خاورې وویستل ، خو بیا د کفر په نوم د خپل پلرني هیواد څخه دانګریزانو په لمسون ویستلو ته مجبور شو.

۵ - په (۱۹۴۷ز) صدر اعظم شاه محمود خان د پښتنو او قبایلو د برخلیک په اړه په کابل کې د سفارت له لارې د برتانې حکومت سره د پښتونستان مسئله په رسمي ډول مطرح کړه.

۶ – د (۱۹۴۷ز) د سپتمبر په میاشت کې افغانستان په ملګرو ملتونو کې د نړۍ یوازینی هیواد و چې د پاکستان له شمولیت یا ورګډولو په ضد یې اعلان وکړ او مخالفه رایه یې ورکړه.
۷ – د افغانستان په رسمي نقشو کې له پاکستان سره دولتي پوله نه په نښه کیدله ، پښتونستان به د نیول شوې خاورې په توګه په ځانګړي رنګ ښودل کیدو .
۸ – په (۱۹۴۸ز) کال کې د افغانستان خبري رسنیو سر لیکونه او په دولتي کچه عالي غونډې جوړې کړې ، په کندهار ، کابل ، ننګرهار او پکتیا کې د ډیورند کرښې په ضد لاریونونه کیدل.
۹ – په (۱۳۴۱ل ل) کال کې سردار محمد داود خان د لندن او ماسکو څخه د راستنیدو پر مهال وویل (( ... د پښتون ولس د یوالي مبارزه د نړیوالو قوانینو په رڼا کې د دوي منلی مشروع حق دی او په لندن کې د پښتونستان د خلکو لپاره دعمومي ازادو ټاکنو د حق غوښتنه وکړه ، همدارنګه په راډیوې وینا کې یې زیاته کړه (( د افغانستان او پښتون ولس د ملي یووالي ژورې اړیکې او د خواخوږۍ احساس به نه ننني ځواک او نه به د سبا کوم بل ځواک سره ببل کړي ) )
۱۰ - په (۱۹۵۰ز) کال کې افغانستان بیا د پښتونستان مسئلې د حل غوښتنه وکړه ، افغانستان وسله وال پوځ قبایلي سیمې ته سفر بري پیل کړه .
۱۱ – پخواني شوروي اتحاد او بلغاریې په نړیواله ټولنه کې د پښتونستان په اړوند د افغانستان سیاسي ملاتړ اعلان کړو.
۱۲-په ( ۱۳۳۱ل ل) کال کې امریکا متحده ایالاتو د افغانستان او پاکستان حکومتونو تر منځ د ډیورنډ کرښې د شخړې په اړه خپل منځګریتوب او ډیپلوماتیکي هڅې په کابل کې د خپل سفارت له لارې د افغانستان شاهي دولت سره پیل کړې ، د همدې کال د لړم په میاشت کې سپینې ماڼۍ د جمهور رئیس ځانګړی استازی د افغان دولت سره د خبرو لپاره کابل ته ورسید.
۱۳ – په (۱۹۷۲ز) کال کې سردار محمد داود خان د ذوالفقار بوټو په بلنه پاکستان ته سفر وکړو ، دواړو مشرانو د ډیورنډ کرښې شخړې د خبرو اترو او سوله ایز حل لاره وړاندې کړه.

سردار محمد داود خان چې په سيمه کې يو غښتلي افغان سياست پوه و ، ده ته جوته شوه چې اوس مهال د نړۍ سياست د دغې مسئلې د حل په اړه نه راځرخي او نړيوال ملاتړ يې ډېر کمزوری دی.

۱۴ – په (۱۹۴۹ ز) کال کې د افغانستان پارلمان (ولسي جرګې) په غوڅ اکثريت پرېکړه وکړه چې د ډيورنډ کرښه نوره تړوله شوې ، نيسته او مړه ده.

انګريزان هم په سيمه کې ورک شوي ، د تړون يو خوا هيڅ وجود نه لري، د تړون د لمنځه تلل يې هم اعلان کړل ، دوړي نهمه د پښتونستان ملي ورځ اعلان شوه چې تر ډېره په هيواد کې لمانځل کېده.

۱۵ – په (۱۹۴۹ز) کې د جلال آباد جرګې ، د ولسي جرګې پرېکړه تائيد کړه او د ډيورنډ کرښې د پای اعلان وشو.

۱۶ – د پښتونستان مسئله د دواد خان حکومت اجنډا په سر کې وه ، په همدې وجه يې خپل ورور نعيم خان امريکې ته د پوځي مرستې راوړلو لپاره ولېږه.

۱۷ – په کابل کې د پښتونستان د اعانې دفترونه خلاص شول. د کرښې په دواړو غاړو کې د لر او بر يو افغان لاريونونه پيل شول.

۱۸ – په (۱۹۵۳ز) کال کې امريکايانو د کمونستي روسې په وجه پاکستان ته د پوځي مرستو اعلان وکړو.

۱۹ - په (۱۹۵۳ ز) کال کې د امريکا جمهور رئيس کابل ته راغې خو په افغانستان کې يې کومه ګټه ونه ليده چې د پښتونستان د مسئلې په اړه يې خپل دريځ ځرګند کړی و.

۲۰ – سردار محمد داود خان که څه هم کمونستي ضد احساسات لرل خو مجبور شو چې ددغې مسئلې په اړه له روسانو څخه پوځي مرسته د لوې جرګې په تصويب تر لاسه کړي.

۲۱ – په (۱۹۵۵ ز ) کال کې پاکستان د پښتونخوا نوم په صوبه سرحد واړولو او د خپل اداري سيستم په تشکيلاتو کې يې اعلان کړو.

۲۲ - سردار محمد داودخان د سفربرۍ اعلان او د فوځي احضاراتو امر وکړ، په ځلورويشتو ساعتونو کې د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه افغانانو په حيرانوونکي ډول په خپلو شخصي لګښتونو په خپله خوښه د ولايتونو مرکزو او پلازمينې ته ورسول.

۲۳ – افغان حکومت په ټولو نړیوالو غونډو او جرګو کې د پښتنو او بلوڅو ورونو د حقه حقوقو د ترلاسه کولو لپاره پرله پسې دیپلوماتیکې هلې ځلې کړې دي په تېره بیا د ارواښاد عبدالرحمن پژواک هڅې د هیرولو نه دي.

د ډیورنډ کرښې په بلې خوا کې:

۱- په (۱۹۲۹ز) کې په پېښور کې د عدم تشدد غورځنګ (خدای خدمتګارو غورځنګ) بنسټ کېښودل شو او خپله لویه موخه چې د خپلواکۍ ګټل و اعلان کړل.
۲- په (۱۹۳۰ز) کې پېښور دیوې لنډې مودې لپاره د انګریزانو له څواک څخه ووتو تر څو چې پېرنګي نوې لښکرې ورورسیدلې.
۳ - په (۱۹۳۰او ۱۹۳۷ز) کلونو کې په وزیرستان کې وزیرو ، مسیدو ، اپریدیو ، شینوارو او نورو قبیلو پر له پسې پاڅونونه پیل کړل او په ترخ کې یې خپل کلي او کورونه د پېرنګي د سختۍ ظالمې او بې رحمه بمباریو او هوایي څواک تر بریدونو لاندې ونیول شول.
انګلیس په لومړۍ نړیواله جګړه کې د وسلو په تعلیماتي کنفرانس کې د ګواښمنو وسلو او هوایي بمباریو منع تړون لاسلیک کولو څخه ډډه وکړه ، د انګریزانو د لایل دا وو چې افغان قبایل مونږ یواځې او یواځې د هوایي بمباریو له لارې تر کنترول لاندې راوستی شو.
۴ - په (۱۹۴۷ز) کال د جون په میاشت کې د بنو لویه جرګه جوړه شوه ، د ټولې پښتونخوا او بلوچستان ملي مشرانو په ګډون پریکړه وشوه چې پښتانه نه هند غواړي نه پاکستان ، یو واحد افغان ملي دولت جوړول غواړي.
۵ – قاضي عطاء الله خان او ظفر کاکا خپل په افغانیت هغومره ویاړي لکه د کابل ، کندز ، کندهار افغان چې پرې ویاړي.
د ډیورنډ د کرښې په دواړو خواوو کې پښتانه سیاسي ، مذهبي ، ژبني ، ګډ کلتور او فرهنګ لري او هیڅوک نشي کولی چې دوي د کرښې دیخوا او ها خوا پښتانه او افغان په نوم سره بېل کړي (۱۲)

# د ډیورنډ دموافقه لیک حقوقي ارزونه

## د موافقه لیک د حقوقي اړخ لنډ تاریخ:

د نړۍ د نقشو پر مخ د افغانستان د اوسنیو پولو د تثبیت څخه نژدې یوه پیړۍ تېرېږي ، د افغانستان د پولو په ټاکنه کې روسانو او انګریزانو د خپلو استعماري موخو د تحقق پخاطر په پوره اندازه لاس درلود ، که د ډیورنډ کرښه (۱۸۹۳ز) د افغانستان د نورو پولو سره پرتله کړو دغه تریخ واقعیت په ډاګه څرګندېږي چې د کرښې په غزولو کې هیڅ بشري جغرافیایي او حقوقي ملاحظات په نظر کې نه دي نیول شوي. په هره اندازه چې د ډیورنډ د موافقنامې د لاسلیک دنېټې څخه لېرې کېږو په هماغه معیار د افغانستان دخپلواکۍ سیاسي او دیپلوماتیکه بڼه غښتلې کېږي او ورسره افغاني واکمنان د ډیورنډ د کرښې په وړاندې د احتجاج او اعتراض پیاوړتیا او سیاسي ظرفیت تر لاسه کوي. په افغانستان کې د ډیورنډ دموافقه لیک دمطرح کېدو څخه ۱۱۲ کال تېرېږي، په دې موده کې (۱۸) حکومتونو په کابل کې قدرت قبضه کړی دی. له هغې جملې څخه څلورو لومړنیو حکومتونو د ګواښ او فشار لاندې د ډیورنډ کرښه منلې او (۱۴) نورو حکومتونو د کرښې په وړاندې په رسمي یا غیر رسمي توګه اعتراض او احتجاج ښودلی دی. آن تر دې چې د ډیورند قضیې د افغانستان په بهرني سیاست کې ستر ځای موندلی دی. .

د نړیوالو حقوقي تعاملاتو برخلاف انګریزانو د افغانستان خپلواکي د افغاني اړخه د ډیورند کرښې د منلو سره وتړله ، دکابل د موافقه لیک په دوهمه ماده کې چې په (۱۹۲۱ز) کال کې د برتانوي هند او اماني دولتونو تر منځ لاسلیک شو راغلي دي (( دواړه خواوې دهند او افغان پولې په هغه شان چې د راولپنډۍ د (۱۹۱۹ ز) کال د اګست په اتمه نېټهٔ د موافقه لیک په پنځمه ماده کې څرګند شوي وي منې ))

په قبایلي سیمو کې څو پېښې ددې لامل وګرځېدې چې په هند کې د انګریزي حکومت د نسکوریدو څخه وروسته او د پاکستان د جوړیدو څخه مخکې لومړي وزیر شاه محمود خان حکومت، د ډیورنډ موافقه لیک په یوه اړخیزه توګه باطل اعلان کړ ، دغه پېښې په لاندې ډول وې.

- په پښتونخوا کې د انګریزانو پر ضد د خان عبدالغفار خان په مشرۍ ازادي غوښتونکي تحرکات.
- په ((بنو)) کې د يوې لوې جرګې جوړيدل چې پکې د پښتونخوا د يو مستقل دولت د جوړيدو په اړوند بندوبست وشو.
- په کابل باندې د قومونو د جرګې د استازو فشار چې دپخوا په څېر کابل ته راتلل.
- شاه محمود خان د خپل حکومت دريځ په (۱۹۴۷ز) کال د جولای په ۳۱ مه د برتانې د بهرنيو چارو وزير ته وړاندې کړ، دغه دريځ د حقوقو د موازينو سره کاملاً سمون درلود. پدې معنا چې ((هر دولت د خپلو ګټو د تشخيص او ملاتړ قاضي ګڼل کېږي، يو دولت کولی شي په خپل مسئوليت په يوه اړخيزه توګه بل لورې ته ديو ياداشت په استولو کې هغه تړون ملغا اعلان کړي چې ورڅخه تاواني کېږي))
- په (۱۹۴۷ز) کال کې د پاکستان د رامنځته کېدو څخه وروسته په هغه موافقه ليک کې چې علی جناح (پاکستان ولسمشر) او د افغانستان د استازي نجيب الله (توروايانا) تر منځ په کراچۍ کې لاسليک شو،د ازادو قبايلو سيمه له صوبه سرحد او بلوچستان څخه جلا وپيژندل شوه، دعلی جناح د مړينې څخه وروسته خواجه نظام الدين د پاکستان نوي ولسمشر د مخکينۍ موافقې څخه سرغړونه وکړه.
- د افغانستان حکومتونو څخه پرته د افغانستان د شورا اوومې دورې هم د(۱۹۴۹ز) په جولای کې د ډيورند د کرښې پر ضد دريځ ونيوه.

په هر حال له دغه لنډ تاريخي شاليد (پس منظر) څخه وروسته حقوقي بحث ته ننوځو، مخکې له دې بايد دا واقعيت په نظر کې ونيسو چې افغانستان هيڅ وخت د انګريز مستعمره (Colonic) نه و، بلکې تحت الحمايه هيواد (Protectorate) ګڼل کيدو.

مونږ د ډيورند موافقه ليک حقوقي باور هغه مهال په ګوته کولی شو چې له يوې خوا د نړيوالو تړونونو د تصويب عمومي تګلارې (پروسيجر) ته نظر واچوو او له بلې خوا نړيوالو تړونونو د اعتبار حقوقي معيارونه له نظره ونه غورځوو. دواړه مونږ ته د ډيورند دموافقه ليک د حقوقي ارزونې وسيله په لاس راکوي.

لومړی دیو بهرنی تړون د تصویب او نافذیدو پروسیجر (تګلاره) پدې ډول ده.
۱- تړون باید د دواړو هیوادونو د ذیصلاحو استازو له خوا لاسلیک شي. دغه صلاحیت د اساسي قانون له مخې متعاقدینو ته ورکول کېږي، نړیوال حقوق پوهان پدې باور دي چې په نړیوال حقوقي نظام کې د اساسي قوانینو ضوابط په کافي اندازه نفوذ لري. آن تر دې چې دیو هیواد د اساسي قانون د حکمونو نه مراعات د تړون د باطل کېدو لامل ګرځي.
اوس راځو چې د ډیورند موافقه لیک په اړه دغه شرط په ځای شوی دی که نه ؟
- د ډیورند تړون د برتانوي هند د باندینیو چارو وزیر (ډیورنډ) او د افغانستان امیر (عبدالرحمن خان) ترمنځ لاسلیک شو. امیر مطلقه بادشاه و او اصلاً د اساسي قانون سره اشنا نه و، بناً نوموړی د اساسي قانون د حکمونو له مخې د افغانستان د خلکو په استازیتوب د تړون لاسلیک کولو صلاحیت نه درلود.
- دغه مطلقیت د افغانستان په دننه کې مطرح و، د افغانستان بیروني سیاست د انګریزانو له خوا د کنترول لاندې و، د همدې کبله د ډیورند د موافقه لیک په تګلاره (پروسیجر) کې د امیر حقوقي او سیاسي باور د انګلیستان د هند مستعمرې یو وزیر یعنې ډیورند سره په یوه کچه کې واقع و.
۲- نړیوال تړون باید د خلکو د استازو له خوا په پارلمان کې تصویب شي، داسې اسناد په لاس کې نه لرو چې موافقه لیک د انګلیستان د عوام مجلس له خوا تصویب شوي وي. اما په افغانستان کې هغه وخت پارلمان موجود نه و. بر خلافت د موافقه لیک له نښتې نه مخکې لږ تر لږه د یوې نیمې پیړۍ په موده کې لویه جرګه موجوده وه، د تحت الحمایه افغانستان امیر جرئت ونکړ چې په دې موضوع باندې د لوې جرګې د استازو له مخالفت او مقابلې سره مخ شي، بناً د ډیورند د موافقه لیک د لاسلیک په ترځ کې دیو عادي منل شوي تړون د دویمې تګلارې (پروسیجر) څخه سر غړونه شوې ده.
۳- تړون باید د هیواد د لوړې مرجع یعنې د دولت د رئیس له خوا لاسلیک شي. دا یوا ځینی شرط دی چې په ځای شوی و.

۴ – تړون باید په رسمي جریده کې خپور او اعلان شي. دغه تجویز د تړون د انفاذ معنا ورکوي. په هغه وخت کې افغانستان دولتي منظم نظام نه درلود. بناً دغه عملیه تر سره نه شوه، عام ولس د موافقتنامې د محتویاتو څخه بې خبره پاتې شو ، وروسته مورخین په دې برخه کې چې ایا امیر انګریزي او دري (فارسي) متنونه او ورسره مل نقشه ټول لاسلیک کړي دي او که نه اتفاق نظر نه لري ، ځنې یې داسې نظر لري چې ګوندې امیر د موافقه لیک د دري متن سره مل نقشه باندې لاسلیک نه دی کړی او د موافقه لیک په متن کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د پولې کلمه هم نه ده ذکر شوې. بناً د ډیورند د موافقتنامې (تړون) په لاسلیک کېدو سره د یو عادي تړون د تصویب د شکایتونو څلورم شرط هم نه دی په ځای شوی.
۵ – پر تړون باندې باید په اتفاق سره د دولتي اړخونو له خوا په نړیوالو سازمانونو چې وروسته جوړ شول لکه جامعه ملل یا ملګري ملتونو د تړونونو په ارشیف کې ثبت شوی وای. دغه عملیه هم تر سره نه شوه. بناً د ډیورند تړون د پنځو شکلیاتو او شرطونو څخه چې یو نړیوال باوري تړون وربانديې بنا دی یوازې یو فرعي شرط یې په ځای کړی او څلور بنسټیز شکلیات پکې له نظره غورځول شوي دي.نو ځکه دغه تړون یو بې قانونه ، بې بنسټه ، یو طرفه او د افغانستان ولس او نړیوالو ته د منلو وړ نه ګڼل کېږي. (۱۷)

لنډيز

د سرحدونو يا پولو مطالعه چې د سياسي جغرافې او جيوپولټيک له ډېرو په زړه پورو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي ، پولې يا سرحدونه هم په خپل وار سره په بېلا بېلو ډولونو ويشل شوي او د ټاکلو لپاره يې بايد بېلا بېل پړاوونه تر سره شي تر څو چې د قانوني پولو په بڼه ومنل شي چې سرحدونو ډولونه او د ټاکلو پړاوونه يې پدې اثر کې ذکر شول.

بايد يادونه وکړو چې تر ټولو غوره سرحد هغه سرحد دی چې د سيمو کلتوري ژبني او مذهبي ارزښتونه پکې په نظر کې نيول شوي وي چې دا ډول سرحدونه د سبسي کوينت (Subsequent ) په نوم يادېږي.

خو متاسفانه چې د افغانستان ټول سرحدونه او بيا په تېره دډيورنډ سرحد دهغو سرحدونو له جملې څخه دی چې د او سيدونکو کلتوري ، ژبني او مذهبي ارزښتونو په نه نظر کې نيولو سره يوائې د نړيوال سياست او د استعماري قوتونو د پرېکړو په پايله کې کښل شوي چې د افغانستان لپاره يې د يوې پېړۍ څخه لا زياتې مودې لپاره سر درد جوړ کړې دی.

په همدې ترتيب د افغانستان د شمال او لويديځ سرحدونه هم له هغو سرحدونو څخه ګڼل کېږي چې پر افغانستان باندې په تحميلي ډول منل شوي دي. چې ددې ټولو سرحدونو پر کښلو باندې د افغانستان وګړي ناخوښه وو ، دا ځکه چې ددې سرحدونو په ټاکلو سره د افغانستان له خاورې ډېرې ټوټې بېلې شوې.

داچې افغانستان يو لرغونی هيواد دی او په جغرافيايي لحاظ په داسې ځای کې موقعيت لري چې تل دې هيواد دېو پول بڼه درلودلې ده ، دا ځکه چې دا هيواد د شمال ، جنوب ، لويديځ او ختيځ د تېريدو راتېريدو لاره وه او دا تېرېدل به ځنې وخت ددې لامل ګرځېدل چې دې خاورې او ددې اوسيدونکو ته سردرد شي. هغه په دې معنا چې کله به چې يو استعماري قوت غوښتل چې د ختيځ ، لويديځ او سهيل په لورې د خپل قلمرو سيمې وغزوي نو اړينه وه چې د افغانستان له خاورې تېر شي او يا لومړۍ افغانستان ونيسي او بيا خپله د استعمار لمن وغزوي، نو دهمدې امله افغانستان تل د تېری کوونکو د تيري لاندې راغلی چې غوره بېلګه يې سکندر راتګ او ددې خاورې څخه تېرېدل و.

خو تاریخ ښودلې هر کله چې افغانستان کې یو پیاوړی او ځواکمن واکمن واک ته رسېدلی او دهیواد وګړي یې په ځان راټول کړي د هیواد سرحدونو لمن یې تر ډېره بریده غزولې چې غوره بېلګې یې د غزنویانو ، غوریانو او احمد شاه بابا دمهال واکمنۍ دي چې د احمد شاه بابا په وخت کې د افغانستان سرحدونه د شمال په لورې تر ماورالنهر ،د لویدیځ په لوري تر کرمان ،د سهیل له لوري تر هند سمندر او عمان خلیج او د ختیځ په لوري د سند په سیند او تبت غرونو پورې ورسیدل چې دا دوره د افغانانو لپاره د ویاړ دوره وه.

خو هغه مهال چې داخلي نفاق او د قومونو تر منځ سیالۍ رامنځته شوې د افغانستان پولو او سرحدونو ته یې سخت تاوان واړولو په دې معنا چې د افغانستان پراخ سرحدونه په تنګو سرحدونو ولګېدل او د بحري سرحدونو لرونکی افغانستان په وچه کې راګېر افغانستان په بڼه بدل شو.

وړاندیزونه:

ددې علمي اثر چې ( د افغانستان سرحدونو ته کتنه ) تر سرلیک لاندې لیکل شوی په پایله کې د وخت واکمنانو ته ځنې وړاندیزونه لرم چې په لاندې لیکو کې یې بیانووم:

۱ – مرکزي اداره دې ځنې څېړونکي او پوهان په دې وګماري تر څو د افغانستان د سرحدونو په اړه بشپړې معلومات را ټول کړي او یوه ټولګه دې ترې جوړه شي چې دغه ټولګه دې د افغانستان ټولو تعلیمي او نورو اړوندو ادارو ته وویشل شي.

۲ - مرکزي اداره دې د هرې سرحدي کرښې په اړوند ځانګړي معلومات وړاندې کړي چې دا سرحدي کرښه کله ، د چاله خوا او څنګه لاسلیک شوې. او د لاسلیک کېدو او نه لاسلیک کېدو څرګندونې دې هم وشي.

۳ – باید د هرې سرحدي کرښې د ټاکلو قانوني پړاوونه وکتل شي تر څو څرګنده شي چې دا سرحد قانوني دی او که نه ؟

۴ – مرکزي اداره باید د لانجمنو سرحدونو په اړوند د سیاسي چارو ماهرین په دې وګماري چې د سرحدونو لانجه د کومه ځایه را پیدا شوې ،اصلي لامل یې څه دی او د حل لاره یې کومه ده ؟

۵ – د سرحدونو د ښه روښانتیا لپاره باید څرګندې نښې د ګاونډیو سره وټاکل شي تر څو په راتلونکي کې د کومې ستونزې د پیدا کېدو لامل ونه ګرځي.

۶ – دآموسیند چې د افغانستان طبعي سرحد دی دا چې په دوامداره توګه خپلې تګلارې ته بدلون ورکوي او معمولاً د افغانستان خاورې ته ننوځي نو مرکزي حکومت باید ددغې طبعي سرحد په خپل اصلي بستر کې د بهېدو لپاره یو منظم او سم قدم پورته کړي.

۷ - امنیتي لوړ پوړي چارواکي باید چې د سرحدونو د ښې ساتنې لپاره پر سرحدونو باندې د سرحدونو څارونکي پوستې ځای پر ځای کړي تر څو ګاونډیان زمونږ د سرحدونو په لور وړاندې تګ ونه شي کړای.

۸ - په سرحدونو کې د پرتو قومونو او قبایلو ملاتړ باید تر لاسه شي تر څو د جنګ او سولې په وخت کې له سرحدونو څخه دفاع او ساتنه وکړی شي.

# ماخذونه


۱-امین ، حمید الله. جغرافیای سیاسي.انتشارات پوهنتون کابل۱۳۵۲ل ل

۲-حبیبي ، عبدالحی. د افغانستان لنډ تاریخ. ژباړن عبدالروف بېنوا . دانش خپرندویه ټولنه ۱۳۷۸ل ل.

۳-حبیبي ، عبدالحی. تاریخ تجزیه شاهنشاهي افغان. اداره خدمات کلتوری افغانستان. پشاور ۱۳۸۰ل ل.

۴-کهزاد ، احمد علی. افغانستان د تاریخ په رڼا کې. ژباړن اورنگزیب ارشاد . دانش خپرندویه ټولنه ۱۳۷۹ل ل.

۵-عارض ، غلام جیلاني. جغرافیای طبعی افغانستان. انتشارات پوهنتون کابل ۱۳۶۰ل ل

۶-عارض ، غلام جیلاني. تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري ویش ؛ ختیځ بیا رغوني اداره (کور) ۱۳۸۲ل ل.

۷-عطایي ، ابراهیم. د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه. بنگاه انتشارات میوند - سبا کتابخانه ۱۳۸۰ل ل.

۸-صافی ، لطف الله. د افغانستان عمومي جغرافیه. د اریک گرځنده کتابتونونو اداره. ۱۳۷۷ل ل پېښور

۹-صافی ، ودیر. حقوق بین المللی عمومی. سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاها.

۱۰-رحمتي ، محب الله. جغرافیای بشری افغانستان. پوهنتون کابل ۱۳۶۴ل ل.

۱۱-رحمتي ،محب الله. اختصاری از جغرافیای عمومی افغانستان. پوهنتون امهات المئومنین ۱۹۹۷ز

۱۲-غبار ، میر غلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ. انتشارات میوند ۱۳۸۴ل.

۱۳-نیازی ، مستعلی. د امیر شیرعلي خان امارت او د امیر سیاسي ستونزې. د پوهنملی علمي ترفیع لپاره ټایپ شوی اثر. ننگرهار پوهنتون.

۱۴- http://larwbar.com/print.php?id=72-20/11/2007

دډیورنډ دموافقه لیک حقوقي ارزونه. دوکتور، م ،عثمان روستار تره کی_فرانسه

۱۵- http://larwbar.com/print.php?id=331-20/11/2007
۱۲_ http://larwbar.com/print.php?id=194-11/11/2007
۱۷- http://larwbar.com/print.php?id=452-21/11/2007
۱۸-اتلس جمهوری دیموکراتیک افغانستان- موسسه کارتوگرافی نظامی وارسا به همکاری اداره عمومی جیودیزی و کارتوگرافی- کابل
۱۹- اتلس- کتابشناسی نوین کشورها- موسسه جغرافیای وکارتوگرافی- تهران ۱۳۸۴ل.ل
۲۰-سالنامه- مجله کابل ۱۳۱۱ل.ل